

Ketabton.com

# وړانګه

یوه وړانګه په لاس ورشي
آدم ولاړ شي قدم وړاندې
بیا پیړۍ په ځای ولاړ وي
او تیرې وي لاندې باندې

ګوهر رحمان ګوهر

PROPERTY OF ARIC Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړانګه

دکتاب نوم : وړانګه
ویناوال : ګوهر رحمن ګوهر
دچاپ کال : ۱۹۸۹
خطاط : نورالدین «هنریار»

بسم الله الرحمن الرحیم

په ویاړ

د هغه ټولو زمریالو
چې د بنیادمو د ښتونو ځنې
تبځندی د پښو ځولانې او د -
لاسونو ولچکونه پرې کوي او دا
رنګ آدمزاد خپل قجیر قامت
ته ورجګوي او ژوند نور
غوړځانګن کوي.

PROPERTY OF ACKU
7550

ځوک يې ولې خپل قسمت کړي
کومه ورځ چې نوړ[1] بېدی شي

ځان په پښ ولې لیکه[2] کړي
چې په شتوکي اوډه بېدی شي

څه په سر آسمانونې يې
که آسمان ځمکه کېدی شي

په مټ څه لره سر په ده
چې په مټ نه رغونېدی شي

په خرډک[3] دې ولې سود[4] شي
چې په خپز نښترېدی شي

د پړو[5] تل[6] ته ولې پلی[7]
له بريالو چې ملېدی[8] شي

د باز اډارهنر دې نه نه ده
که نه يې چتی بازېدی شي

ليت او لار چې د مېړه وي
فطرت ټول ولجه کېدی شي

---

۱-نوړېدل = بدلېدل، ۲- لیکه = حساب، ۳- خرډک = یوبوټی، ٤- سود = مطمئن
۵- پړه = ماتې خوړل، ٦- تل = ډله-جمعيت، ۷- پلتل = یوځای کېدل، ۸-ملتل = ملګېدل

که سوارهٔ لوی فرعونان دي
که کلیم ع شي کوڼېدی شي
د بري لاري بند نه دي
که له سر څوک تېرېدی شي

○

لوی کتاب د میړ ښکارانو
ګډه په وینه کي د ځان کا
بیا د ختو کوکوښتان تول
الوتونکي باتوران کا

○

د کلیم دو دو نه خپل کا
رانسکوره زور جهان کا
پرېباسلی او نتلی(1)
د دوران قهرمانان کا

○

هغه څوک چي میړه خپل دي
ټینګ په ننګ او په خپل خېل(2) دي
د زمرو مارېي(3) یې ژوند دی
چي د ښنو زمرو د سېل دی

---

۱- نتلی = ناتارشوی، ۲- خېل = هوډ، ۳- ماري = ښکار.

ترمې وینې دی سکروټې

ترمې وینې هم رامبېل[1] دی

د خپل تک دې پاتې شوي

په کولند[2] دی که په ښکېل دي

ږشې څنګه بې کوندي[3] شي

چې څانګې[4] همه رشپېل[5] دي

دا طبیب به دې څنګ روغ کړي

چې بې چارې د شاخېل[6] دي

چې د دروزې[7] بې تښې وي

په وینو پراته غلبېل دي

چې جامه یې کاسیرې[8] وي

څه په چېل[9]، څه که بې چېل دي

د باتور انګې[10] وروستې ده

مشرې که په چارخویل[11] دي

---

۱- رامبېل = یوګل، ۲- کولنه = کټه چې د غوېي، څاروي څښتن یې اچوي چې د آزاد ګرځېدو نه یې منع وساتي، ۳- کوندي = کانې ګټې - خلپل، ٤- څانګې = درې غابښې ۵- رشپېل = چې د غلې ږشې پرې بادوي، ٦- شاه خېل = چې شاه خلیل کوي یعنې خرمنه شخ شخ تسمه تسمه کوي، ۷- دروزه = د غنمو ږندې - تیلې، ۸- کاسیرې = بد لمنې ۹- چېل = پړونې، ۱۰- انګې = یوه لویه چې وایي انګې مل دی څوک دی ،

۱۱- چارخویل = قرقره

نه د دین، نه د سا[1] دین دي
خوار متازه د سوئیل[2] دي
شاید بیا خلیل ع زرغون کړي
"مومنان" ټول آذر خیل دي

کلیمه لویه کیمیا ده
لا نا پوهه پر دنیا ده
څوند په هر اړیکی وي چې
کلیمي ته یې اړتیا ده

د جهان د سمام[3] پېښې
وړي تندي باندې مېړونه
د ملخې نه کله کېږي
د باتور، د باز کارونه
ننګیالي په دار برسېره
غورځوي خپل منبرونه
په پاڅون چې "زه یم" نه کړي
خوشې پوچ هغه مونځونه

---

۱- سادین = اړولې ځمکه، ۲- سوئیل = دریمه نړۍ، ۳- سمام = بندوبس - توزیز

په جرقار چې لر و بر کړي
بلالي رض هغه بانګونه[1]
چې دا ځمکه دخدای کور کړي
دي هغه دخښتن ملونه

ننګیالي دي شاه میړونه
لکه حق یې کړي وړه وي
د ننګیال په مټ، په توره
دلته اړ دخښتن کړه وي
خولې ماتې په فرعون کړي
د ننګیال د مزري زړه وي
تور[2] ځنګلونه خوندي وي
حق ننګې یې غرین کړه[3] وي
ساه یې واچوي جوش[4] کې
له پیړو پیړو چې مړه وي
د ناحق وړه[5] تول پړه کړي
وړه هغه کړي، چې تل پړه وي

---

۱- بانګونه = آذانونه، ۲- تورځنګلي = باطل کاره، ۳- غرین کړه = قلا- سنګو
٤- جوشه = تنه ، ٥- وړه = بریالي.

د کيدړ په اوړو نه شي
چې په غرمب د ښتو زمرو شي

په تسپو موسلو نه شي
چې په تورو، په نيزو شي

په منښتو[1] نه بوديږي
چې په وينو په خولو شي

چې د باز شوغې ته اړ وي
هغه څنګ له تو تکو شي!

ننګيالي يې شي کولی
چې په دار، په غرغرو شي

د تاريخ بهير کړولی
کله څوک يې هوډيالو شي؟

د راسمنو چارې کله
د ناړامو[2] په لينکو شي

د ژوندون د ميدان ګټې
په ډال غاړو توريالو شي

د ځيرک مېړانه کله
له درست کلي د رندو شي

---

۱- منښته = زيارتونو ته د وړو د پاره په ځان څه منل، ۲- ناړام = ناغيږ- ناراست .

چې رنځور باویړې(۱) وکړي
پوچې هیلې د داروشي

آدم وګوره ای مارکسه!
کله بې سود په کورکوشي

د ځانګو د کوچنی نمرۍ(۲)
پوره څه رنګ په ځلموشي

چې د نمر د روناوي وي
رون په ښخنک په اورکو(۳) شي

عقل څه خوښي آتي دی
راسوړی(۴) په خپلو ملوشي

د ځیرک سر پوره والی
د حرص په سیپاروشي

◯

چې له مال خبره واوړي
پټ په سربندي پاله شي

کائنات چې په منګل کړي
داسړي سرې باله شي

---

۱- باویړې = بابیړې = د نارو غی بیا تاندېدل، ۲- نمرۍ = جامې، ۳- اورکی = اوربلکی
۴- راسوړی کېدل = راګرځېدل- راخلاصېدل- راختل.

لوښتې نه تلي صبا څوک

هم يو «زه يم» به تاله شي

ښکلی هغه چې ښيوه[1] يې

يو د «زه يم» په پساله شي

زه يم هر کله څلمی دی

دې وجود چې زوړ ځاله شي

هغه ورځ به ستر سحروي

چې دا ځمکه يو کاله[2] شي

په يولوی سين کې غوړلی

چړې، چړ، لښتی، ویاله شي

○

د کتاب حد ماتی مه شي

هره لاره چې تړي

چې د ژوند د خيره نه وي

ورانوه لارې زړې

حق به هله ميشته وکا

لومړی غير چې وشړې

يا سري ياد څړې شه

حق ناحق ولې ولړې

---

۱- ښيوه = دول- ښايسته والی، ۲- کاله = کور

زیبنا کیان چې له مینځ ورک شي
پرګنې به شي مړې
لوی آتیان لکه اوګرې[1] کړي
د جګ غر تېږې وړې

○

ستور څارکو دواړه کسې
په څار لوګړل تنها کې
نرې وټ یې چرته بیاموند
برد ستورو په دنیا کې

○

له کارونو او له شګو
سره زر وسپکل ګیږیکو[2]
الوول حق وناحق دي
څنګ تراوسه ستړګورو؟

○

د بوذر[3] د کندې خلق
د آذر و د کندې دي
که هر څو مخ په کعبه دي
له بتانو پیوندې دي

۱- اوګرې د څارووڅورلو وروسته پاتې کېدونکې ګیاه یا تاڼتې، ۲- ګیږیکره ګیږکوونکې

جوړوي د ښېښو مېنې[1]

څېرکان خو ښېښه کروي

د وختونو په ناتار کې

چې يې وکوري دبړ[2] وي

○

د وجود نيستي بلا ده

پرې له سوخت مارکسان ژاړي

سر نيستي ده د نيش[3] "زه يم"

د وه نيستي کليمان ژاړي

○

رغانه د توکو توکو

د صورت هسې د وړېږي

ولې "زه يم" يوتوکيز[4] دی

يوتوکيزی نه نړېږي

○

حيواني وجود څه دی ؟

د حجرو[5] الوولتيا ده

او حجرې د خاورين توکو

خپل ترمينځه انډولتيا ده

---

۱- مېنه = کور، ۲- دبړ = سنګسار، ۳- نيش = ناشته - نيشت، ٤- يوتوکيز = د يوتوکی نه جوړ - چې کډو نيزه نه وي، ٥- حجره = Cells - ژوندينکی.

دا خاورینه واړه ټوکي
دبړیښنکو رغونې دي
او بړیښنکو ته چې ځیر شي
تشي ترقنده ځپې دي

دین همه واړه سره زر دي
مذهبونه ټول زرنیخ
دین ژوندون کاندي غوړځانګه
مذهبونه یې چارمیخ

ګرلاسي کندوان یې ډک شول
چې جَب جوب شول په خولو کې
ځارله هغو تورپالیو
چې په خېز دي سرخیږ(۱) وکې
غوړه(۲) ټوله دې په ځان بڼده
تش لمن که یې پسرلو کې
ساده ګوري ملغلري
خُسا ډنډوکو، خرخوږو کې

۱- سرخیږه = سرېږه ، ۲- غوړه = تومت - ګرم والی - ملامته

دا چې ګواښ په ستورو کېږي
ته هم زاوره څه نېزوکې
څه ناویاته چاره وکړه
مېرنیه ! په تلو تلوکې

کوړیمار[1] چې د ببل وو
هغه سر په مونډو[2] دی
کړولی[3] چې یې د باز وې
په لولکو په شوغو دی
چې د برید او د غدې وُ
د تسپو د موسلو دی
چې جرګې پرې ښایسته وې
هغه شرم د جرګو دی
چې ښبتن د لوی اخور وُ
اوس د پوچو کسبېدو دی
د تیرو تورو بور[4] کی وُ
د بې سترګو د کنډو[5] دی

---

۱- کوړیمار = داتمان د مخې په لوبه کې په ببل (په سرکې) د کوړې (حلقې) د ننه تګی ویشتونکی
۲- مونډه = د مخې په لوبه کې په بُت د تپلی خمې نه ښکته وچې کېتې لوېتی، ۳- کړولی = د ښکار ځیرکولی، ښارلو د پاره د باز تاویدل راتاویدل، ٤- بور = زمري، ٥ = کندی = چم، محلت.

د قرآن ځنې نامينده
څه د خوشو عقيدو دی

بازداري يولوی هنر دی
ته په يو بيله[1] بازداري
چې نه لري جوړې
پـه نامه باندې ميشکاري[2]
تش غر بازو وته ناست يې
څه که ځوري د لوی بلاري
ته ميرښکاره کړين غواړي
په ښه ښه مرداري
يې په تومنه له و يارلو
خو په چاروکې د ويار[3] يې
له قرآن نه غير هذا
بې صلوة مونځ گذاري
کله سرگرېوان ته کوز کړه
چې داولې دومره خواري ؟

---

۱- بيله = د ښرمنې لاسمه چې د باز کښېنولو د پاره يې لاس ته اچوي، ۲- ميشکار = بازوان، ۳- ويار = شرم.

چې پټولنه قرآني وي

داسې به شهسرې[1] وي

دا تنزري تاروګې به

بیا بازونه وهندي وي

دا پربوتي ، دا اِنسټ[2] به

بیا نښترې آسماني وي

چې نومرې په قام قام دي

بیا به ټول یو آدمځي[3] وي

د ننن شخولې[4] او کاټي[5] به

صبا توري او توبرې وي

په ونډې[6] ځمکې د ننن به

نه ځمکوال ، نه شیخ ملي وي

نه به پولې ، نه بیلتون وي

نه نهرا ، نه زمایي وي

یو آدم ، یو آدمتاله[7]

په کښ رنګ به یورنګي وي

---

۱- شهسرې = سترسرې، ۲- پرېوتي اِنسټ = بوټي دی، ۳- آدمځی = د آدم زامن ،
٤- شخوله = درسته، ٥- کاټي = تیکی، ٦- ونډې = داسې حلال کړې څلروې چې پکې خلقو برخې (ونډې) ملستي وي، ۷- آدمتاله = ټولنه چې پکې د ځمکې ټول استوګنې (ځمکزي یا آدمزي) راټول وي یا سره راټاله وي

آدمخوني[۱] به يو كور وي
وران به كوركې كوركي وي
درناوى به وي په جسو
سپكاوي به بې جسې[۲] وي
نه مريې نه به څښتن وي
نه به غټ، نه به نري وي
نه كاواك، نه به بې واك وي
چې الله به ټولواكې وي
ټولنوال به ټولنوال لـه
رب، رحيم ويا، او ولي وي
هم به يې كسب خالقي وي
هم توره[۳] به يې رازقي وي
وى پاخون لكه يو تن به
يو تاله به مختكي[۴] وي
له ختيځه ترلويديځه
به يو ستره ورورولي وي
په حدونو د كتاب كې
به دعقل خپل منخي[۵] وي

---

۱- آدمخوني = ځمكه ، ۲- جسې = ورتيا - اهليت ، ۳- توره = قانون - تره - ترلې لاره - لاره ، ٤- مختكى = مخكې تګ ، ٥- خپل منخي = خپلواكي - آزادي.

سین، د غاړو په درنښت به
تل تر تله غړځنګي وي
یو ځاریږي به له ټولو
ټول له یوه به لوګي وي
له قبلو دي کډه وړو
به یوه کعبه موندهي[۱] وي
له زرها اوړ اورکو به
د حرۍ یو رڼایي وي
سرې ټول به سره سیال وي
په فطرت[۲] به یې ستروا کي وي

ستا خیرې درست کائنات دی
ته لا کوز په خرخښو[۳] یې
پولې پولې ده لا ځمکه
خپل ترمینځه په دښمنو[۴] یې
ژوند له تنه کډونیز[۵] دی
ته ځان ځانې به ترخو یې

---

۱- موندهمه = راکښل شوی. د غوبل د مینځ غوبۍ، ۲- فطرت = نیچر، د بنیادم نه پرته نور ټول کائنات ۳- خرخښي = جګړه، ۴- دښمنه = دښمنۍ، ۵- کډونیز په کډه هستېدونکی.

ځمکه یو کور ځکه نه شه
ته ترنن د کورکوې
یو کورمه[1] واړه آدم دی
تن په قام، په قبیلو یې
د یوې حجرې زېږېنده
د حجرو په بیل کلو یې

○

کړه بنا یو آدمتاله
وران کا پولې سرحدونه
د خپل تن حجرې کا ټولې
دا خواره واره قامونه
ستا مرام یو ورورولي ده
نه ملکري ملتونه
یو بیرغ په ځمکه جګ کا
کوز کا واړه بیرغونه
داوسلې د مرګ لاهو کا
سُرد امن کا تارونه
پدې ځمکې - آدمځوني
بیا برسېر کا جنتونه

---

۱- کورمه = کورنۍ.

يو کتاب دی سرتوره[1] کا
نور ونغاړه کتابونه
بیا آزاد په آدمزاد کا
پارچاو[2] شوی نعمتونه

زول چاپېره سور الوزي
دې ویزاره راپرېوځي
له دې چې قندناتاربه
هم پاخه بښختې وځي

چې د ژوند ځله یې مړه شي
چې یې ساه دلینکو وځي
راخوړه شي پرې دلوړو
او ربه خوله ځوځي ماځوځي

د قرآن دعوه خو داده
چې مؤمن په هرچا بردی
دعوه کېږي د کتاب کوره
دهمه قانونلر دی

---

۱- سرتوره= دسرقانون- اساسي قانون- بنستېز قانون، ۲- پارچاو= ډب- بند.

○

د زردارو په تـــرلـنې
دې ګټونکي په بايلـــــنې
د شته منو شته منې ده
د نيستمنو له نه بيبنـــې
د ماړو کوښې جوړېږي[1]
د تش بانډو[2] له خـــرمنې
د زردار مـــانۍ ولاړې
د کارګر په تـــنې پـــلنې
د ډک لاس[3] سپينه جامه ده
د تش لا سـو په ريمـــنې[4]
بده ورځ د لـولنـــګرو[5]
دازل نه دی ليکـــنې
د باطل تولنــه پايـــي
د مذهب په سروينځنې[6]

---

۱- کوښې = پېزار، ۲- تش بامنې = نيستمن، ۳- ډک لاس = چې لاس يې ډک وي
٤- ريمنه = خيرنه - خيچنه، ۵- لولنګر = بې ځمکې - چې ځمکه يا دوېتس نه لري، ٦- سروينځل = ملاتړ کول - پلوي کول.

○

وکړي ټول که آذرِ غـواړي
ښبستن له تا نه خلیلي غواړي
د فرعـوني سپاره کوزولوله
واړه وختونه کلیـمي غواړي
په تشو تیکو که کتـي کېږي
دننګ ډکرلا شه ځلـمي غواړي
وکړي ټول سر، قـوي او پاڼي
حق د مېړه غوندي شوندي غواړي
ښکیلاکي عمرد څاروو دي وکـوري[1]
شوندي آدم به مخ کښي غـواړي
د اباسین خونړي نیزاوچـلي[2]
د جالیوانو سـرهنـکي غواړي
په هسک اوتل دحقیقت لټـول
تل سربېري لیـوني غواړیا
چي د ښبستن لاره د ب کولي شي هـم
شوند اسي زین او هک سري غواړي

---

۱- وکورئ = خبردار، ۲- نیزاوچلي = سیلاب او چپې.

○

دهغه قامونو په خرخشوکې
واړه قامونه بې هيڅه دل شي
دميکياولي د شهزادګانو
په ژمنو خپلو کله عمل شي
خپل کندکونه به پرې ناتارکړي
کله چې که تولې زمرې ته تهل شي
غښتلي متې دخان کلا ده
کمزوري متې دخان اجل شي
که سربېری هو دیالې پاڅي
په ریزکو[1] به داهغه بدل شي

○

چې دحق سره په لار دی
لکه حق هسې بې شار دی
چې دحق دلارې بېل دی
په دنيا، په آخر خوار دی
يو ويارلی دحق رنګ دی
بل هررنګ آخر دوويار[2] دی

---

۱-ریزکی = کوچنی- وړوکی- ناشی، ۲- ویار= شرم- پیغور.

چې تیغه[1] کې حق ته و لاړ دی
د خدای هغه څوک پکار دی

د خپل "زړه" نارو زونکی
خپل ځانې په ځان ناتار دی

د مېړونو مټ که کوړی
ګل ورین هم تن اوچار دی

په توله چې د ښوول ژوند دی
حق، او ښکلی هغه کار دی

چې د خپر د آدمزاد دی
نو په خدای هغه مخدار[2] دی

○

چې ناسور په مخ د ځمکې
شیخ ملی وي دا دوتري

آدمزاد به دوه تېپي وي
لرې برې نورې لرې

د ښوولنو، د لرمون به
زینې لوړې او نهرې

---

۱- تیغه = برش- کړه وړه- نقش-
۲- مخدار = رویدار- دروند.

شي ځوړلي خلــقي به

بې ډولتي[1]، يوه ځـړي[2]

درپه درخاوري په ســر به

پرکښي وي لولنــګـري

د ټولنو لوړ شور دا —

خپلو بدو له اشــري

عقوبت په غرغنډو شي

چې دکيا[3] وي اورد ســري

تاله تک د ادم اړ دی

په يو ورځې ســرابري

چې پري درومي کائنات ټول

ستا هم هغه لارمخبري[4]

PROPERTY OF ACKU 7990

داچې خان خانتوره[5] بولي

داچې هرچيرته شمله دی

نيسمنان په کمنډ[6] نيسی

وايي سپک دی ارکـجه دی

---

۱- بې ډوليت = چې ډوله نه لري، ۲- يوه ځړی = چې يوازي وي، ۳- دکيا = چې لوګی کوي،
٤- مخبری = په برمخ، ٥- خانتوره = خان چې ټول پرانستل کوي چې د توری خان وي،
٦- کمنډه = کم ذات - کم اصل - کم سيال

له ازل، وا یې بـربـاد یو
نور په برخه شاگنډ[1] دي
دوی له مخ دخدایه رغ[2] دی
نور له پښتو یې زیږ نده دي!
کومه نوره یې د ازل ده
چې شتمن داسې پوره دي؟
د ښېښتو کوم گنـاه دی
چې نیمگړي، نیم کـوره دي؟
او په هـره یو تـولنه
پرې، پرېوتي او روړه[3] دي!
که د اصل کـړې پوښتنه
آدم زی ټول یو حجره دي
له یوې حجرې راغـلي
قام، قبیل، تپه تپه دي
لوړ زور دی له زېښـاکه
شته په نیشو[4] آلـوده[5] دي
د بې وس د بې وسی نه
وسمنې را زرغـونه دي

---

۱- شاگنده = چې شایي لکیدلی وي، ۲- رغ = جوړ، ۳- روړه = تباه.
٤- شته او نیش = شتمن او نیستمن، ٥- الوده = ننبتي- اخته

لە شتە منو غلچکو بیا
مذهبونه بدرګه دي

دفرعون دکور د ننه
په پاڅون آخر موسیٰ[ع] شي
د باطلو ښامارانو ټول
تار پتار یې لە امسا شي

○

عقل لیت دی، دیوکی ده
پرې قدم قدم روښېږي
کلیمه هغه شهلیت[1] دی
چې ټول ښروند پرې جوتېږي

○

دآدم د شاه ځامنو
توري هر کله ښروندي دي
د وختونو په آسمان یې
په ځلا ستوري سپوږمۍ دي

○

د زړو پیرو کارونه    نه میړونه به بیا کړي
شاه میړه کړي هغه چارې    چې پیرې پس یې دنیا کړي

---

۱- شهلیت = شه + لیت = لوی لیت.

○

چې په ځان پلن(۱) سوری نه شي
ټول جهان په ځان راتنګ کړي
له کونړه چې دمه شي
هغه توري نېزې زنګ کړي
هوډيالي نېزه باز کوړه
چې په ماته نېزه جنګ کړي
له يوې بلې تېرې ته
د زړګي(۲) زمري غوڅنګ کړي
چې د مرګ په طلب نه شي
ژوندانه ورځني څنګ کړي
ننګ په حق بانديې کوونکی
لکه ځان بانديې چې ننګ کړي
رنګ له حقه ځني واخلي
بيا ورباندې جهان رنګ کړي

○

کليمان د ژوندون لاره — رب د ستړکو کې په ډک کړي
ځيرکان يې په لټون کې — تر عمرونو سرغونډ کړي

---

۱- پلن سوری = په پسات پلن، ۲- زړګي = پرهار ژلی.

○

دی پکار څه رنګ اړیکی
د آدم له بل آدمه ؟
دغه لویه کشاله ده
او د ژوندلویه کړمه

○

آدم دغه قدر نه دی
انجړبنجړ[1] ژوندینکی
یو موندړی[2] زړیم او ده دی
د بدلون پدې څاندړه[3] کې

○

که آدم بې پوښه نړی
څه پیر[4] مخی رغانه وي
په ناتار د مرګ صبا به
میراث مرې هدایره وي

○

د بدلون پدی ناتار کې هم یو "زړیم" دې خوندي دی
که صورت دی یواړتیا ده نو دا "زړیم" دی موندړي دی

---

۱- انجړبنجړ = الوول ، ۲- موندړی = راکس ، ناوی ، ۳- څاندړه = همتړ- فریم سکلیټ ، ٤- پیرمخی = پیرخوړونکی ، بدلېدونکی .

○

پیرخواره[۱] یې له پښو یو سي

چې مونده یې وي اومړی[۲]

د کچه «زه یم» آدم وي

خپلو نغوتو[۳] نه باد وړی

○

د آدم له «زه یم» پرته

نور هر څه چې دي نوړ بړي

له هر زبړی[٤] د هجري نه

لکه ځان هسې راز بړي

○

هم برحق هغه ژوندون دی

چې د «زه یم» په غبرګون دی

که وجود دی که ستوله

کار د «زه یم» یې پاڅون دی

○

چې د «زه یم» په شړنګ نه دی روزنګوی[۵] د بدلون دی

د هجرو په کېج کې اوسي او د سترګو تش الوون دی

---

۱- پیرخواره = پیوخورونکی، ۲- اومړی = اوم، ۳- نغوتې = جذبات - غریزې.
٤- زبړی = هغه څه چې زیب ول کوي، ٥ - روزنګوی = روزنه کوونکی - لویونکی.

O

ټول فطرت يې خوري تاليږه[1]

آدم نړۍ جدا جدا وړې

د ځاني سود غم خوړونکي

له حق لاړې پښې پښا، وړې

چې په نورو خپله ويش کړي

خپلې برخې نه سيوا وړي

چې مشال نورو ته جګ کړي

خپلې مخې ته رڼا وړي

ژوند او مرګ يې دواړه سنګلي

د خورلو چې دعا وړي

چې له خپل ميوه آګاه وي

د بشر درنې په شا وړي

اوښتون[2] د ژوند جامه ده

چې شي لټ، په هغو واوړي

---

۱- تاليږه = په جمع - تاله .

۲- اوښتون = انقلاب .

د ژوندون په لویه لار کې
مشالونه بلول دي
د تیرو په تورتیپونو
لښکرونه خپرول دي
کتابونه د پر دجیل
سوزول او بدول دي
د آدم نه د پس یاد کړي
د عمرونو هېرول دي
که مذهب یې هم سړوینځي
چې باطل دی نېښ[1] کول دي
که خوندي دي په کعبه کې
چې بُتان دی لړول دي
په هر پیل د پرمختیا کې
برابرا[2] شوي غورځول دي
چې ښکېل شوي په غورځنګ شي
ښکېلکونه یې غوڅول دی

---

۱- نېښ کول = ورکول- په نیش لګول.
۲- برابرا = په پلنو واړه.

د سندان تندي به چرې کروبخې نشي
د درنډو پلکونوجوړکه پرې ناتار وي

د مېړه نېستي يوڅو ورځې نېستي وي
نه مېړونو شاعري نېسمن او خوار وي

د رنډ و عقيدو خلقوکې همېش له
ښبتنان دغرېدلو به په دار وي

چې بازونه يې په لاس کې چتي[1] کېږي
ځان به وپوښتي چې دا څرنګ بازدار وي

چې تورۀ[2] دحقه ملانو خپلوي څوک
يوقدم يې په چاپه ، بل په انکار وي

خپلي سترګې غروبلي ورلـه بويه
که رنا يې لاړ ليدلوله پکار وي

دړباب خوارۀ دې نشته آدم خانه !
ښايي خلق چې له ميلسه[4] دې ويزار وي

---

۱- چتي = ورکوتي مرغي

۲- توره = قانون - لاره - منه

۳- حق مل = دحق ملګرى

٤- ميلس = مجلس

ننګيالي نه اخلي لاس له خپله ننګه
اباسين کله پښه نيسي له غورځنګه

چې تر څو د ظالمانو نوغي شته دي
حقملان را پسې نه شي څنګ له جنګه

پوهکړي د بې پوهو نه قلنګ خوري
او تول لاندې د کليمو[٤] تر قلنګه

چې يې مټ د غليمانو وي کتلي
نه ويرېږي يې له تشه ډنګه ډ ننګه

د مردي توره ميدان کې لاسنه کېږي
خلاصه نه وي د کاټي[١] توره له زنګه

پټپل زړې کې زرغون شه او مسور شه
څو دې نه ده لا کوټي[٢] خاورينه رنګه

چې يې جس د تن په موړ کوپه پړواوري
خو دغه ته وي ګرځې د جهان تنګه

---

١- کاټي = تيکی - چړتون

٢- کوټي = د داني کڅوړه

یوبری د یوجنګ غالی دی خوېندي که
بیا په بل میدان برېښنا اوتالندي که
چې دلوی ښتن د لاسوسره ښایي
شاځلمیا! ځان په داسې کاربندي که
په حجروپه جماتونوکې تورتم دی
د ړیوې غوندې لمبه دې په تندي که
د میړه دځوی آوازله خلقو بېل وي
څوک به یې ښکنه په تولنکې ګوندي که
چې دخپل عمل لاره[1] ستړې کړل
څوک به ښک هغه وګړي راژوندي که
له غوجلې د څاروو به ښکه وځي
چې په مینه مینه ښت ته غوړوندي که
چې یې وېړ دنړورنې له چانه وي
هغې پاڅې بې وسان په ړاګ ګوندي که

---

۱- لاره = لور

خپلې غوټې ته دغاړې

له خپل تنه پلواښه[1] شه

د ټپاندہ اباسین خپل

لکه غاړې په ساته شه

دکُریز سختې په ځان کړه

پسته باز په الواته شه

په خپل ځان قیدونه کېږده

زرغونه شه او بیا شته شه

پوولې راښکه، پانکې[2] کېږده

بیا په زغاښت لکه میږه شه

د ښښتن دلارې مل شه

له ښښتن ځنې لاړغه[3] شه

په ریبلوچې ورک نه شي

په لوښه[4] لکه واښه شه

دختیځ له الا الله -

لا الله د پرېواته شه

---

۱- پلواښه = مرورې - پلکواښه، ۲- پانکې = میږ - ډک - مرام

۳- لاړغه = لړغوني - وړاندې، ٤- لوښه = خصلت - خوی

په ټولنو لیوګان ګډ دي
هر وګړی لوی اوګړ[1] دی
لولنګ ځکه په نیش دي
درناوی چې په دوتر دی
ټول په تومنه آدم زاد دي
څوک تاله، څوک تالانګ دی
چې درنه ډله[2] یې مله[3] ده
د هغو سوی په سر دی
داکندی دی د بې ننګو
څوک یې موړ، څوک یې نهر دی
هر ټولنه پانګه واله
د ځان بدوله اشر دی
عقوبت به غرغنده شي
دا چې نن ډګیا[4] سوشر[5] دی

---

۱- اوګړ = اولال، ۲- ډله = ګوند، ۳- مله = ملګري، ٤- ډګیا = لوګی.
کوونکی، ۵- سوسر = د ډېرو سپیاکو او چې نري نري لوګی کوي.

چې زمانه ښکلي بډې مټې
وا به نه خلې تورې څټې
په ګټونو يې پسرلی شي
چې څوک ونغري سکروټې
خپله ګټه دې نن څه ده ؟
چې ستايې د نيکه ګټې
د يوه ماته، باقي سوي
د تور ګټ سوي ډيوټ يې
نه نښتر او نه چنار شوې
څه د تورو خاورو خټ يې !
دا ميدان د تيرو تورو
ستا مصرې توري دې سمټې
چونګ ايوه يې پاتې شوی
وې انګار د درنې سټې
حق ننګانو ته ورېتيږي
د بې ننګ هر کاله بټې
لات منات چې ګذاري څوک
شي پخپله يخې ګټې

خرې، ځکه شوې، خيالي نه شوې

د «لا» شي ځني شي نه شوې

د جنس ترغې نه نا مينده

ټل نچه شوې کنې نه شوې

تشه شخوله - خالي تيکې

ببل توره، توبرې نه شوې

له حجرې تر سرې راغلې

لا په «زه يم» سرې نه شوې

له مذهب چې ملستل دی

لدې مرينې ژوندی نه شوې

انځاره کې چې دی پروت دی

هغه ستر آدم زی نه شوې

مبنګيری درته آسمان دی

ځکه باز، باتور زې نه شوې

هر آدم چې دی فرعون کړ

پې بلواک، ځانوکی نه شوې

---

۱- انځاره انځور- زړی- نقش

۲- ځانوکی = ځانواکی

د وکړو سالار پېړدی
خرسواره چې شاهسواران کړي
د کوځو لارو کسو د ري
ځلن ستوري د آسمان کړي
کوکوشتان داومو خښو
سنداّن سري اتلان کړي
لوړاوکوز سرې یوسیال کړي
اروپیّچ واړه یوځان کړي
چې سړي پې نه سړی کړل
راغوزار هغه بُتان کړي
دلالونو په ځلقولو
د مشکنو بازار وران کړي
چې جس من پکې قدر نه ري
راد بر هغه دوران کړي
داد نوم مسلمانان ښول
پر ریښتیا مسلمانان کړي

---

ا-اروپیچ ـ خپلوکې په ضد ضدی ـ په غوټرو پرنه و.

په مېږوکې د بېرکلونه راټوکېږي
سره پښوينو دلاله پکې جوړه ده

ننګيالي دي چې دلوی څښتن په تاريخ
پوره ټکره د نړۍ ټوله بار(۱) ده

ته تنږېږې، دنياده د بازونو
دېرې ځکه ژوندون دي اداره(۲) ده

غزا وشوه که په نوم کليمه کوې
زرغونه دي له ژوند کومه کليمه ده

هوښيايي(۳) په ټپوړوند دي، ښکارترښي
که نه يې نن هم پرته هغه دوګزه ده

د ګزې(٤) غشی دې هروخت په سر دی
په ديدوان(۵) باندې دې اره پره، وره ده

صبا ابنکه د شولان ګټو ته منتې
که دې نن ګټلی قام لره اوګره ده

---

۱- باره = مسئوليت - ذمه واري - پره ، ۲- اداره = وړانه - ګمتې - لوټې ،
۳- هوښايي = ښکاري ، ٤- دګزې غشی = دوړې پرې ګوزار ،
۵- ديدوان = شيش - څيرکوټه .

لکه خلق هسې تولنه
لکه کوڼ هسې يې غار
لکه اوبۀ هسې يې سوري
لکه پسنه هسې پيزار
لکه باز هسې يې ماري
هسې باز لکه ميشکار
لکه ږيره لاوڼ هسې
لکه سر هسې دستار
لکه توره هومره کټه
رشه هومره خومره کار
داوچت الوتو پانکي
دشهپرو په مقدار
دږيوې ږنا ترکوره
نمر په ټول جهان اوځار
د بې ننګه په رنګ د ږيروي
ننګيالي نه لري سار
چې د لاري اوښکو نه وي
په هغو جوړيږي لار

لا پې د پېروکړې کاندي
یو منصور خېژي په دار
د بې مېتو وار ځنډېږي
د مټ دارو وي بې وار
د زمرو نه اخستلی
سورلندې[1] شي کله ښکار
د اتیانوس باري وي
په ملخانو کرمار[2]
کلیمان نه شو ټول عمر
له خدايي چارو ونه کار

مذهبونه دي پوچ شوي غربینونه[3]
مذهبیان د خپلې ماتې بیرغونه
د هغو د "راتاندون[4]" طمع عبث ده
چې مذهب یې رواښته[5] کړېدی هډونه
په هغه سالو چې ځان لره دوړېږي
دی عبث د انځورونو کراوونه.

---

۱- سورلندی = کیدړ، ۲- کړملو = یو غر دی، ۳- غربین = یو توپک،
٤- راتاندون = بیا راغبرګېدل، ۵- رواسته = وراسته.

له مذهب يې چې تودې وينې کتګل شوې
مسلمان بايلل ملکونه سنګرونه
له مذهب ځنې لوی شرک په جهان نشته
لګولې يې په نيش دي امتونه
د مذهب دغونډلانو[1] تنستو کې
ګل ډيوکی[2] دي دعلم د پوهنتونه
له مذهبه هسک ځلمی توول ريز کي شي
ريزکونه کله کيږي لوی کارونه
تکی تکی دکتاب نن هم هغه دی
خومذهب ترې نه وښکلی دی ساهونه
چې ترڅو دغه مذهب او دا ملا دی
وي تالا به د تالا قاموسونو خونه

پوخ سنګر دی شاه مردی ده
توربازي دی تيغ بندي ده
له باطل د ځان ژغورنې
يوه لاره ملا بندي ده

---

۱- غونډل = غټ غمی
۲- ګل ډيوکی = دګل ډيوي

لہ فطرت دي پـرده ده

لہ فطرت دي سرزوري ده

کلیمہ دي سرېتوب دی

سرېتوب دي سرهسکي ده

دبل غم هم دځان غم دی

دا پښتو، مسلماني ده

○

پہ ژوندی کلیمہ بیا خلق ژوندي کہ

دالہ وارو ورېستو شوي بیالومړي کہ

دا چې خاوري يې لہ مخہ نہ چانېږي

د سپوږمۍ پہ دود مخونہ يې پرقندي کہ

ورونہ ورونہ سرغوښې پہ چـاړه کوي

لہ ټولیز ژوندونہ ورکہ کوندکوندي کہ

شاه میړونہ لہ زرگونو ستوروتیر شول

بیا يې راښکہ خپل ملګري ګرنـدي کہ

دهغې يې ننګہ خلقو مرګ روا دی

چې ګزران دبل پہ سوي کرپندي کہ

د پسرلي درنہ وریځہ شہ پہ خوی کې

ځان ورښت، کلہ بر پښنا اوتالندي کہ

شاه ځلمي چې د آدم په ننګ اوچت شي
«شاه پلکونه» بیا زغمل په ډال تندي که

○

د هند و خلکو لاس تپول نه ده
دستر کوه و کاګیره تلل نه ده
د ایلتیا(۱) نو کلي وران ول نه ده
د راسمانو یې سمول نه ده
که اونډي(۲) جونډي د دوپړک(۳) وي
د یکرنګانو غوڅې کول ز ده
مذهب له ځایه راغورزول کړي
کتاب یې ځای ته برخېژول زده
چور کوونکان هم کراولي کړي
لکه باز کله اوچت وهل ز ده
چې فرعونان یې موزي(۴) کران کړي
نو کلیمان یې تور نول زده
د آذرانو بتکورکي(۵) نړول
د خلیلانو کعبه کول نه ده

---

۱- ایلتیا ن = پساتیان - وراني پیدا کوونکي، ۲- اونډي جونډي = مزغروني چې غوڅې رښتې نه وي، ۳- دوپړک = دوه رنګ - منافق، ۴- موزیکي = چې د هیڅ ښېګڼې نه وي تش کټ پرې ډک وي، ۵- بتکورکي = بتخانه .

د باتورپه شوشهپرو خپلولو
منبګيرک اوغليوان نه باتوربږي
د يو بُت په لرېدلو بُت غليمو!
سومنا تونه په کعبوکې نه بدا بږي
له کيکره د نښتر پيوند خوړوکې
نښتر هيڅکله نښتر نه پاتې کيږي
چې په پرهوکودي وژلي مذهبونو
هغه مړه په مذهبونو نه ژوندېږي
چې د زهرو ډک لښتي پرې راسوا روي
د غه سوي چنارونه نه تاندېږي
د قرآن وارې رڼلي عقيدې نن
د مذهب په کتابونوکې ساهيږي
د تيروسره ملستې بنا پيرکۍ نن
د رڼا په تکې مرګۍ ته ببرېږي

شاه ځلمي دی نوی ځمکه آسمان غواړي

د زوړ شوي په ځای نوی جهان غواړي

د خپل "زه یم" سرهنګي یې سلامت یه

مرئیتوب نه - ملګري د یزدان غواړي

ننګیالو کړه غاړه ما ته اطاعت ته

په لټون که د هغه دي خوځان غواړي

په دنیا کې یو کار هم ناشوني نه دی

یومخیزي[1] ځیرک وړه ځوانان غواړي

کشالې غوښتني نورې د آدم دي

ژوندانه نوی تفسیر د قرآن غواړي

په لښکو د لیښتینکو کښتې نه شي

د ژوند ستونځې میړني قهرمان غواړي

په یو ماره که کاوز شي، سود یې نه شي

چې ژوندي وي نوی مارې زمریان غواړي

---

١- یومخیزي = چې مخ یې یوه وي - د یوې مفکورې.

عقل هغه وهندی باز دی په لاس

چې د پر اوچت اوچت ښکارونه کوي

ښکته له ځمکې نه تر نمر، ستورتلین[1]

کراولې کړي، یرغلونه کوي

لوګین[2]، اورېزه[3] که یې لاره نیسي

له الوت کله پرهېزونه کوي

رهبر، کړاو دی ټول د عقل چې نن

بریښ دڅروندی تومن څخونه کوي

د آدم کار دی کائنات پرزول

بر هغه قام، چې دا کارونه کوي

چې په فطرت یې ده لتی اړولې

د هسکو سترګو معاشونه کوي

عقل بهیر کړ غورځنګ د شعور

ویرو ویرانی ټول مذهبونه کوي

پیاده له عقل کوم ګړي چې دي

د بل موټانه دې سوالونه کوي

---

۱- ستورتلین = آسمانلاره-کهکشان، ۲- لوګین = د ګازو ریځ یا نیبولا،

۳- اورېزه = هغه نیبولا چې ستوري پکې په زرغونېدو وي.

حق نه په ښنګی، فطرت په ترڅي
تشي ځاندي وي، زور يي اوبه وي
عقل يي شل وي، هڅې يي کټه
په غټو کوري، ولې ړانده
نه پري ودانه، که دوی ژوندي وي
اونه پري ورانه که چري نه وي
دخوانمردانو دقط نه وځي
نه يي خواږه وي، نه يي تراخه وي
په "نن په "زه يم" دوارو نيستمن شي
خوراک يخساک يي خواږه اوښنه وي
په زاړه شخوند کړي، نوی تري نه شي
نوی بريدونه خودمېره وي
چي يي راغوند کړي وار کړلي
ديو کنجکی دارزښت نه وي

دلـــــوګـــینو د لړمون نه

اوړین ستوري راغونځېږي

ستورتلیزې سروهي لا

کائنات لا پراخیږي

که یو ستوری ورژیږي

نوی سل راوټوکیږي

د ژوندون زرغونېدو لـه

نوې ځمکې سادینیږي

چرته ژوند دی په بخښنچه

چرته کچ، چرته ځوانیږي

د زرها ستورو میروکې

د ژوندون غبرې غږیږي

یوه ستا دا ځمکه نـه ده

چې ساه دار پکې هستیږي

شنخړې ځمکې ښکته بورته

ستورتلیزوکې څرخیږي

هغه ځمکه ستا دوتر دی

چې دې لاس وررسیږي

عقوبت به له دې ځمکې
درته کړي په سر کېږي

د مېړونو ستوړ بېړه دي
له سپوږمو ستوړو تاوېږي

د یو نوي کور لټون کې
د آسمان لارې چاڼېږي

عقوبت دا ځمکنۍ به
ستورګ زو ته ورسېږي

د ژوندون څومره رازونه
به په ډاګه وغوړېږي

قیامتي(۱) پاینده هغه اوښتون شي
لاالاو سره چې کله یې برغون شي

د عبرت مرې یې کړې په ملکونو
کوم فرعون چې له کلیم په ستور برېښون شي

د اولس وینې نه ببنونکي هله ورک شي
دربړیا(۲) اولس چې کله په پاڅون شي

داو یارلي څلي هسې ولاړ نه دي
د مړدۍ کارونه ډېر په شواخون شي

چې په سین داوراو وینو شي وریوړي
قافله یو قدم مخکې د شړوندون شي

که هر څو مره سنګرونه له ځان تاو کړي
عقوبت د ځمکې تبې هر فارون شي

چنیشني(۳) عقیدې چې غاړه باسي
د هغو خلقو به ټولنه مړیستون(٤) شي

---

۱- قیامتي پاینده = تل پائیدونکی، ۲- دربړیا = خطر- نتلی- ځپلی،

۳- چنیشني = چې چنا سکې پکې شوي وي، ٤- مړیستون = هدیره.

د دوران په زلزلو غورځونو لړزېږي
په شکلني ډېروکي څه له ويارېږي
تلناوونه يې رواسته، مونږ ی خوړلي
چاړ کېږدي کې به تر څو پورې اوسېږي
د پرلسبنتر په چورلندو څمکې له تللي
کچه دېلي! په خپل خبرڅه غلطېږي
د سورسين چېې دمه وښکه له يادو
ای فرعونه! چې کليمؑ پسې پاڅېږي
د ملخ څانګ سړدي ملاشوله دوه غبرګې
ته لاځې دا تي بارته لاندې کېږي
لا اله بتکو رکوته ښکر پوکل دی
که مؤمن يې تر وروستي بُت به جنګېږي

کلیمه یې چې په زړه باندې سنګر شي
هغه قام هغه وګړي او سپین غر شي

کلیمه د سړي برش د شین زمري کړي
لړو[1] بر وړته د ګډو خپور لښکر شي

کلیمه لکه بوټه چې د اکسیر وي
مس ځوانان چې ترې نه وځي نو سره زر شي

ننګیالي په جهان پټي را تلي نه شي
دوی د هرې سرڅېرې[2] وتلي سر شي

د هر کور انغري تود، تیاره شي وړکه
میړني ځلمي په هر لوري چې وړ شي

له تونګه[3] د عیسې چې نمړي وخوري
که د خټو کوګوشتان وي په وزر شي

د مذهب د مدرسې نه هیله نشته
چې یو چپني هم د بدرلیچور شي

---

۱- لړ ـ کوز
۲- سرڅېرې ـ د جنګ غالي سرپړه
۳- تونګ ـ شکور

○

دغلیم د برید او چت(۱) غي حاجت نشته
لاس ترکړیو وچي پخپله سنګروال شي
دکور، قام بدخوړمنځي(۲) په ځان ناتار دی
په تیغه که باتوران وي تش پیڅال(۳) شي
تانک دکتی، دیرغل یې دلاس وځي
چې دچاراتلونکي توري نه اتال(۴) شي
ځلمي وار په خپل اصل دي لالونه
دروند لو چې څوک نه وي کوتي لال شي
جماتونه، مدرسې او چینې دې پرشول
خوله چا هغه بانګونه د بلال شي

○

چې دخاورو له کالبوته
اوده «زه یم» برسېرن شي
په اجل باندې جل را شي
بنیادم ولاړ شي تلن شي

---

۱- چغه = اپه، ۲- بدخوړمنځي = بې اتفاقي - اروپېچ، ۳- پیڅال = د باتورغل - غرباړه، ٤- اتال = په طمع - په اسره - معطل - ایسار.

دژوندون دغو ځنګونولوی میدان دی
چاته پوله نه سپوږمۍ او نه آسمان دی
دفطرت غیږه پرانستی ده هر چاته
بود هر چا هم په قدر دخپل توان دی
دا په تاده جوړه کانټې که توره
خپوره چاپېره دجنګړې واړه سامان دی
نیمګړتیا کړمی تولې اړ په مټ دي
مټ کول د بنیاد مو پوره په ځان دی
چې یې زده د سورکو وینو کښېدې دي
د هوښۍ ښاخه کمی پدې جهان دی
د باتور لمځی دنیا ده بېله بېله
یو د ځوړې، بل د لوړې ویږی ښان (۱) دی
چې سرمزی د نوښت (۲) یې په لاس در کړې
دلوی برید په ننداره دی اوس یزدان دی

---

۱- ویږی ښان = ویږی انهوونکی، ۲- نوښت = پیلات - ابتکار

چې د"زړه" ټول رنګونه
یکمانه شي یکرنګ شي
لکه غوندې چې چړې شي
اباسین شي په غورځنګ شي

○

سل بخونه یې چې یو مخ شي
"زړه" هله خان دوران شي
کائنات کړي د پښو لاندې
سلاکاره د یزدان شي

○

چې یې "زړه" په تنه کې
لکه بُت سلګون سړې وي
آدم زی شي سل لاریزی
له یو دره سل درې وي

○

د توریال زړې راخېژي په سوسر کي
د هوډ ی هڅې و باسي لاري غر کي
توربریسنونه یې پخپله غماز کړشي
میړه کله پټېدی شي په لښکر کي
"ستوروڼا"[1] کرښې د ځمکي کړلې ماته
ښځوي بیرغ د ستوروخپل دوتړ کي
مرجوڼا د نهنګانو له کاله نه
ملغلرې راپنه کړېدی څادر کي
زهري خوږه په یوماری ورپېوځي
بله ماره یې نیولی وي نظر کي
مړدکي، دارو، بټک او اوربشینه
دغه توکي د میړونو وي سنګر کي
هره ونه خپله میوه نیسي
چامونډلی دی کروسکی په کیکر کي

---

۱- ستوروڼا = (یوه زن د مرجوڼا) د ستوري وښکاري

زردار هغه کورکښان دي
چې شړوندي بنیادمان خوري
سړیخور په پټه یې نه خوري
سنه برسیر یې په میدان خوري
د بې پرسه کلو خلک
څه مُلا، څه دوتریان خوري
یووړی یې په شا پروت وي
بل شینې لښتې بارګیران خوري
د باطلو راجواړه ده —
په برمت یې بې کسان خوري
روایات راپا خیدلي
په حملو حملو قرآن خوري
د آدم په بدې ورځې
کلیمان وار وه خپل ځان خوري

چې په منډه د هوډ یالو ځي
لار یې خوډ کړې کړې وي

چې په څرخ باندې سورې شي
د هغو تورو لاشې وي

چې له اور ځنې ونه ځي
نو هغه پېژې اومې وي

له چېو چې انګوڅه شي
پولادي هغه سینې وي

چې جنګړیز یې ژوندانه وي
د برم ډکې یې شملې وي

چې دمت مجال یې نه وي
د هغو ناندرې ګیلې وي

د باتورو هنې ګوره
څه که یو موټی بنې وي

چې وهي د تنګسې توري
په هغو کله تنګسې وي

چې څریانې یې تاو نه شي
نو هغه لیندې پېکې وي

چې وهې د تنګسې تورې
په هغو کله تنکسې وي

سپوږمۍ، ستوري، ستورتیلیږي
د میړونو برآمتې وي

د سرهنګو غورځنګونه
د تاریخ زرزرینې وي

د اخلاص د شاهسوارانو
منزل لوی، لنډي توښې وي

چې منګل یې د زمرو وي
د هغو مارې سکې وي

په راسمو باندې غرونه
د مالوچو پاغوندې وي

پرناورې سنګر بالې
ویښې سترګې پلیتې وي

دوړنګ تښتې کُن پړانه
چې د بدر ترېسې وي

د میړونو لوی لاسونه
خپله تورې او بلې وي

د ګیدړو په نصیب کې
د زمرو پاتې درنګې وي

Reserved -1-

چې یې پښې وي غزولې
د هغو ړاکې سپېرې وي
چې له ژونده ماتې وخوري
زور یې ټول په موسلې وي
د مړشواکو مسئلو کې
هم د مړو مړینې کیسې وي
کوښي هم ځان سره کوږ کړي
چې یې خپلې پښې کږې وي
دیو ړوغ دسیالۍ نه وي
د ړندو که پړکنې وي

○

قام دلې دلې توروتور برېښ کړې
دغه کمال د اولسواکۍ[1] دی
هر دلیت خپلې دلې ته سنه وایي
دغه دستور د دله بازۍ دی
پلویان راوړي ناحق به حق کړي
"قامي جرګه"[2] کې سوال د لیړه دی
چې "جرګه غړي"[3] ټول شته منان وي
وار هیواد دی وندې وندې دی
کاواکه دروميې واکمنې دلې
څوک یې د مخې د کاواکۍ دی
د "سلاغونده"[4] سیځلي لار ده
ولې هله چې د حق په تار ده

---

۱- اولسواکی = دیموکراسی.

۲- قامي جرګه = پارلمان.

۳- جرګه غړي = ممبران.

٤- سلاغونده = د شورئ غونډه.

ولي هغه چې د حق په سر یې ننګ دی
واړه شړونډ یې دکتاب په رنګ کې رنګ دی
چیلي ناوښکي په سمڅو، په لغمونو
بمبل توره د باطل سره په جنګ دی
د جهان په "دنګ قامتو" سراوښکلي
سالاري یې په نړۍ پورې قلنګ دی
هم د علم په دنیا یې بیرغ جګ دی
هم چاپېره یې د ښه سرېتوب ډنګ دی
هم یې کټه، هم یې مخ ملازۍ ورکړه
خیل پردي یې په نماڅنه باندې زنګ دی
د زیارت خوږو ته ناسته بې کتابه!
ستا کور لاري ولایت د پلې لنګ دی

منکران په دلیلونو منکران دی
او مُلا د بې دلیل مذهب امام دی
روښان خیاله نه کافر دی، نه مومن کې
د تسپو سرګړوان یې له ناکام دی

هغه ځړنګ به د بل کاسه کړي دړکه
چې یې خم پڅپله وچ او نسکور جام دی
پوهګړې تورې تورهېږي، ځې په دړه
چې ملا ورښکاره کړي کوم اسلام دی
لیشتکي له لیشتکي مفکوري زیږي
ځان وګوره په جهان دې شوم سام دی
مذهبونه په کړي د نیسمانو
د شته منو د خوندي[1] کتو سمام[2] دی

○

خدای ځروندی مال یې میرات دی
څه بې کچه ناروا دي
دي دهولو چې د خدای دي
نه زما دي او نه ستا دي
دادلاد دوران سر دی
دوتریان چې په کړ با دي
د هغو لپ چې تاویږي
له پیروونه چې په غلا دي
له زما، له زمانې نه
پساتونه په دنیا دي

---

۱- خوندی = په امن- Safe ، ۲- سمام = بند بنا

چې لسين ترې لاس نيو کړي

شاه ميړونه د الله دي

امانت د اوليا دي

چې له تا ځني سوا دي

چې د حق او د باطل ډغره راشي

د بې لارې پلار نيکه په لاره مه شې

چې توره[1] يې د بتانو لړول وي

خدای دې وګوماري ته هغه مېړه شې

چې يې غل غدو له وېرې بلوسه کړي

په مورچلو د قام وېښ هغه ليمه شې

چې مړه شوا کې ولسونه پرې راغيږي

که يې سل ځله توکې، هغه تارخه شې

څه زرغنې زرغنې کوې چا قهرمان ته

که ملا وتړې، هغه توريال به ته شې

غرونه غرونه واوړې هله به شې ويلې

چې د نمر پشان پرې سوريه ايښېد شې

چې يوه پلارګنې ومانځې اولس ټول

ته به هم د اولسياسړې په وله[2] شې

---

۱- توره = دستور- قانون، ۲- په وله = په ډوډۍ - پښبه ورځ

چې راشپېل دې په راشه د آسمان ښخ کړ
بیا به هله د سرې په نوم باله شې

چې د کړاو تندې خولې خولې شول
د قام جوشې بیا پلوشېنې شولې
د سر ښندنې کرامت وکړوره
د ازغو غېږې ګلوړېنې شولې
د پلار خېرې دې کائنات دې واړه
کاش چې دې توري بیا پلرېنې شولې
با تورزي خپله به راوزیږوي
که د پروکې دې مابڼېنې[1] شولې
غږ او واغه یې شېخ ملي ونیول
چې د زمري ستوګې تندرېنې شولې
د تورانۍ لېونۍ کرېکې سره
څانګې غړانګې سندرېنې شولې
چې بیا په رحل دې کتاب وخاته
ذرې بې ارزه دې نمرېنې شولې

---

۱- مابڼ = یوغر

○

کلیمي لره ژوندي زړونه پکار دي
او وړه لوټې په پنډه کله پیدا کیږي
په خوږلن کې له بحر کو توغږیدونکو
تر آسمان شړبه کوونکی او رتاند پسرزي
چې یې نو د تنې وچ، ځیلي ژوستې شي
په کږوږو شبوونه راټوکیږي
د مذهب په کُښ خوږلو لختو لهړو
د سرهسوري د قاموټونه جوړیږي
هِکځلمي بویه بیرغ د محمد له
دا په خوار ولشتکو نه پورته کیږي

○

مړه یوکي مذهبونه
لاړې نه شي رانولې
د بوذر انقلابونه
آذر نه شي راوستلی

○

د ژوندون او بزدي کیسو له — کائنات به چاپول وي
له موجود ځنې پشسا به — تر لوکیزي پورې تلل وي

○

○

چې په هغو شړغونګ کړي
چې پرې کسرې وي وختونو
ګویا ځان لره توزیز[1] کړي
د کوړونو، کفنونو

○

د باطل سره په جنګ کې
نه نیم سول شته، نه سوړ شته
د خلیل مټ دي تود اوسه
د آذر چې بت کړه شته

○

د هندو عقیدو سبارکې
انقلاب رابرسیرن شي
د زړو خدایانو مخ چې
ولسات ته کرغیړن شي

○

بتان شي د ځمکې تبی
بتکورونه رانسکور شي
چې د زړونو په وړشوکې
حق زرغونه شي، سمسور شي

○

---

(۱) توزیز= بند وبس

○

خلیلان چې له تولنې

د خدایانو وړکول کړي

نو لومړي د دې خدایانو

خدایي ور پوچ کول کړي

○

کلیمان د فرعونانو

پاچایي هله غوزار کړي

چې بې لارې ولسات ټول

د دلیل په زور په لار کړي

○

د کلیم د درني پرګښې(۱)

خلقې وي وارې زبرګې

هم یې کتبه، هم بخښنه

هم یې مټ وي هم یې سترګې

○

چې د وخت اړي ګړې کې

ځای ټینګ لکه د غرو

د خپل پوخ «زه یم» په مرسته

د همه پرګنو سرو

○

۱- پرګې = پرګنې.

اوسې تش د عقل اندېښنو سره
ځې په تياره لار او اوږ کو سره
عقل که سقراط دی، بريالی نه شو
ګرېوې په لاس د پرشو کشالو سره
ستونځو د ژوندون له برمه پرې يستل
دل يې چې سپوږمی ستورې کړل پښو سره
لا تراوسه لرې له خپل ډګه يې
لاړې کله مارکس، کله روسو سره
کله په يوې کله په بل ځې
درومې دې نيلي د برپيوکو سره
وينې اوښکې وچې شي لنبې کښېني
عقل چې بلد شي الله هو سره
راشه د کعبې درشله ونيسه
مل شه ای ځيرکه کليم زو سره

آدم زی له مرئیتوب ځني آزاد کا
د "مَا کَانَ لِبَشَرٍ"[1] سبق ورته یاد کا

چې د بل د خولو ورزم تري راخېژي
د هغو ماڼو کړکېچو خوربنیاد کا

د آذر د بُت خانې لړولو ورستو
شړی ورته ورځه کور د خدای آباد کا

چې صبا په غر قېدوشي کلیمه وایي
د دوران فرعونه انن ډېر خدای رایاد کا

په لوخړو کلي پټ، په وینو ړوب دی
د کوچني فکر سالار دي څه فساد کا

د مري په ځای څښتن چې زور نیسي
د عمرؓ انصاف به غل عقوبت ساد کا

له کړېوانه د فطرت یې چې لاس وښکه
هغه قام به زر په غاره کِند کچکول کا

لا اِلّا چې یې توره شي د ټولنې
هغې ډب به یرغلونه د منگول کا

---

(۱) (ما کانَ لبشرٍ ان یؤتیه الله الکتاب ... ثمّ یقولوا للناس کونوا عباداً لی ...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق باطل توری تور برېښ دی تل راغلي
حق به نه وي چې باطل سره نیم سول کا

د هر قامونو نه دي غوندي اوبو وړي
په سین غاړه له بارګیر خوشي پرزول کا

رسیدلی په خپل "زه یم" شاه میړونه
باچاهي زرغون د خاورو له کنډول کا

داکاني یوازې تېرو خلقو نه کړي
خلق اوس هم په ژوندون لونه ښخول کا

د دې کلي خلق ټول سر ښخواره دي
په پردو فصلونو بلوسي خپل ته شپول کا

چې ځانکړي سود پسې یې شي وکړي
په ټولنه کې سور او ور په غرغنده وشي

د شته منوشته مني چې خُمار وکړي
انقلاب د نیسمنا په راتلو شـــي

چې بې وس دې دوسدا رود سیالي شي
دزرداره تپې دا کله پیرزه وشي

دوتریان د لولنګو غمونه نه خوري
له لیوه کله زرې سوی د شپنکو شي

زر داري د پردو وينو لوی اغيږ دی
اغيږلي عقوبت په چاودېدو شي
الا مې د او بنستون د قلِ العفو ؟
دوترونه چې ورو - ورو په کمېدو شي
هغه کار چې کليمانو ته اتهال دی
هغه کله له مارکس او له روسو شي

له د ستور د باتورانو چې بې پک دي
خود په جاله کې پيدا يې مښکيرک دي
چې يې ژوند د خدائ لارې په لاروي
هغې سيال دي، هم برخين، هم په خپلک دي
د ميړونو لار ده اکې آسماني لاره
مزغړونه لارې تل د دوپړک دي
له ساده ايمانه ځارې پي فلسفي شه
ځښتنان چې دلروکي د بتک دي
شپنکي کوره غرضونو شړخان کړل
په برمت ارم په غوښود کنډک دي
د ننګيال واړه کارونه هلې ځلې
د نيمنو، بې اسره وُ په کومک دي

تور[1] ښنکلي پرې برې راولی نه شي
چې د بدر، د حنین توري ترملا دي
الاچي غوندې دانه راوړې یو ځای له
شاه ځلمی له شاه ځلموکه شاپه شا دي
ننګیالي د سر زړه وکي د تور سرو
ننګیالي ځکې شملې داولیــا دي
فرعونان يې چې په مکر کوټ ښکار کړي
زرکول يې بیا کاروونه د موسیٰ دي
یو کتاب و چې امت پرې یو ل راټول وو
یو کتاب دې، اولړوه[2] دوه اویا دي
هر دولیت[3] دخپلې دولې دوزړې[4] وایي
او آمي خلق حریان، چرته رښتیا دي!

---

۱- تورښنکلی = چې توره ښکل لري. د باطل ځوا کونه.

۲- لړوه = ګوندونه - دولې.

۳- دولیت = د دولې غړی.

٤- دوزړې = ثنا - صفت.

د ژرانږي[۱] تنګسي کرښې کې
ژوندانه کله ځائېږي

ژوند غزېږي، او چتېږي
ژرانږه خورېږي او سمسورېږي

د زانږي وجود د خير دی
چې پرې "زه یم" شیرازېږي

د وجود دنیا تاغیر خوري
"زه یم" کله تاغیرېږي

د خښتن په لیکه "زه یم"
خپل قامت وته رسېږي

د زانږي ځاندره شي ړنګه
"زه یم" هر کله پائېږي

ولې د خدای ماتې خوړلی نه شي
څوک یې ترلې پرانستلی نه شي

تورې به ستا د موزیکې تورې وي
د مېړه توره پښېدلی نه شي

---

۱. ژرانږه = (لکه واوره ژرانږه) ماده - چې زېږول کوي - Matter

د ګیدړ برخې دي هر چا وخوړې
د زمري برخې څوک خوړلی نه شي
که بُت خانه د پلار نیکه ده نو هم
خلیلان غلي کېناستلی نه شي
چې یې بیرغ د الاهو رپیږي
څوک په سنګر یې ور ختلی نه شي
زمانه هر څه مره که مخکې ولاړه
له کلیمانو مخکې تللی نه شي
دغیرقامونو د کټ پښې تر ناسته
تا عزت داره څوک ګڼلی نه شي

د خیګونو[1] خاوندان چې اړ و بیچ شي
رسوي به څوک جاله وایه ټکو در ته
ځاني سود چې مدعا شي د وګړو
بیا څوک اړوي بل رونه پردې ور ته
په زنار کې تسپې وپیلې خلقو
یو مخیزي مسلمان چې لاړ شي چرته!
د خلیل نوم د ثواب د پاره اخلي
ژوندانه دي ټول ناري وهي آذر ته

۱- خیګ = شناز

خدای دې توان د مېړونه یات د شا ځلمو کړي
چې په نره ورکېوتي دي لوی غــر ته
د کلیم د پېرې خلق هم هغه دي
نیمګړتیا وې چې د خدای رسوي سر ته

بیا پېواړ د محمد(ص) په وینو جب دی
د طائف خلقو دې تېرې بیا وړولې
دا جنډې د کلیمې چې چرته رپي
دا د بدر له میدان راغلي ستهولې
د کعبې په توره کټه لوظ کوونکو
د سړونو په بازو غاړې خلاصولې
صدقه د وینو سرو د پتیالو ده
چې نن قام د خپلوالۍ خبرې کولې
د سمسور فصل رشه پیمانه کېږي
د تش تورکي پیمانې کله چا کولې
سمندرې خیرې غوڅ کا خپلې غېږې کې
که او به دالکډو ورځې ختولې[1]
ساقي خُم ته د شا کاسه سړه ناست دی
خو که سترګې لیونو بیا وغړولې

---

۱- ختولې، چې د ختو لهو ړکي وي.

## ○

پخه مه شه د توریال د مړدی تو ره
د منکرو لا ولاړ دي سنګرونه
د شړوندی مفکورې[1] خپله د ومره څواک[2] وي
بې لښکرو کړي ړالا ندي هیوادونه
انقلاب د کلیمې ړاغلی نه دی
چې راځي بوربوړکي انقلابونه
یو بیرغ د محمد[ص] به تل ړپاند وي
نور دښیلمی[3] دي باد وړي بیرغونه
هم یو رنګ د کلیمانو پوخ تلن دی
ړارژیږي نوراومه او پو ړنګونه
سرچینه یې چې شي وچه، ړندوی شي
په غومبا روان اکاو[4] اکاو سیندونه
د تاریخ په اوږدې پلنې هدیره کې
بې له شناختې[5] دي پراته ډیر اولسونه

---

۱- مفکوره = نظریه- فلسفه، ۲- څواک = زور- قدرت،
۳- دښیلمی = ټول- سراسر، ٤- اکاو = بردم- ډک،
٥- شناختې = خازې

○

د هغو قامونو بڼه[1] د ښکلې شي
چې لیندۍ یې د ځلموشوو پرې کې شي
چې یې کډې مفکورې او هلې نه وي
د هغو د خپلواکۍ کوزې جنډې شي
راسمنې د مشرانو چې یې نه وي
ښې درنې پګړۍ پلرینې یې ښنۍ ښنۍ[2] شي
لا شه تورې ښیادم تشې کاتې شي
چې په برخې یې ژونده عقیدې شي
د شادو غوندې پېښې کړې د قامونو
چې یې جس د نوښتون بسمې بسمې شي
څه په څه دی له خاورینې ډیوې کړه
له ډیوې نه عقوبت بلې ډیوې شي

○

کوچ شوملې[3] سره بیل بیل کړي
زمانه د شړوند شاریل کړي
د میړو لاره یــــــــــوه وي
چې څه کاندي هغه تــل کړي

---

۱- بڼه = رنګ، ۲- ښنې ښنې = ریښې ریښې، ۳- شوملې = تروې - شلومبې .

چې په لار د شهزاده[1] شي

هغه دوه ژبي ساتل کړي

په فرعون ګاندي نسکوره

چې دستور د کليم خپل کړي

دره يونيم په نېزه وړي

که آسونه د پېر تېغل کړي

د نبي ورځې په تکل کښي

خلق توري هم ګالل کړي

د ګالا کوترو ته ګوره

چې په نمر پسې غپل کړي

○

د باتورانو نوغي[2] دې خور کړه

درته دي پاتې تش پيخالونه

دلبه[3] مرداره څنډوې لاس کښي

تش تېپوسان پرې کوې سودونه[4]

د چتو ښکارې د ګزې نه کړي

هونهايې ګرځي نيسي بازونه

---

۱- شهزاده = ........کيا ولي د کتاب نوم ، ۲- نوغي = اصل - نوغي خورول - بېخ وړکول ، ۳- دلبه = غوښنه - طمع ، ٤- سود = مينه

چې پرې ایږي وي د باتورانو
نه ښکاري هغه د ننګ ننښترونه
له خدای اګاه شول او نه له ځانه
طالبان وايي کوم کتابونه؟
غرابین زنګ شه، او توري پټې
یا تې مُلا دی، یا يې بانګونه

◯

وګړي کوره په غورنه وپرنه و
نمري له یو بل نه شوکول کړي
کارونه واره د لاس سبري دي
څوک شي سکوندلی او څوک سکوندلکړي
دښته منانو د پنګان را پنډ دي
دښمنانو وندې ویشل کړي
یو پنجور هم خپل نوغی نه خوري
آدم لګیا دی آدم خوړل کړي
څوک په خمچو[1] پسې نه انده شول
څوک په اوبږمکو[2] شوندو[3] وهل کړي

---

۱- خمچي = د نرو جوارو د وږی - خوار خواره، ۲- اوبږمکۍ = غوره زیره خوراکه - شاهي خواره، ۳- شوندو وهل = لکه څاروي چې په ګیاه کې تشه خوله ووهي - ولې خوري يې نه.

د قبر ځای د لولنګر نښته

ځمکه وال ځمکې ر انغاړل کړي

دوړیتو غوبنو د دوزې خېښړي
خالق آخر به منځ ته کېدل کړي

○

د ځمکې مخ چې په بلوا رئ

دا انقلاب دی، هم دا پکار دی

چې سپور او پلی سره یو سیال کړي

هغه ریښتیني کاروان سالار دی

وارته دې شي له زړغي زړغي کړي

نن را اوچت شه هم نن دې وار دی

مېړه د عقل، غوښې د ښکار خوري

د عقله پلی پخپله ښکار دی

هر سړی ځانته ترخه توېژي

یو غوماړه دی، نور ولس خوار دی

کلیمه وایي په شرنګ یې نه دی

یو سر او بل سر عالم بې لار دی

د ننه په تن کې زړې زرغون کا

بهر بیا کوره څه رنګ بهار دی

ژوندانه کله بېلتون کله ګډون دی
کله مل شه د ټولني کله بېـل
که دې زور د نړهاني بدلولو نه وي
د دوران کوڅړې خوره اوشه بـد ل
درناوي او سپکاوی په جسوار ړی
ستا په لاس ده که کښي او سې که نـل
ننشه توره ګوری لار دکښې نه ده
توریالیه! چې ځونه شولی حق مـل
ساد ، هغه چې په خولو پې دتندې خوري
تیار خوړکړی د همه ولسیـــا غــل
دیګرنګو ګوګل پاک وي تل له ویـرې
درغلان او دو رنګان وي په زلـزل
ته ویله وې چې کوچې ماهیوان بارکړې
اوس وهي به یې دایلبند شمال او ربل

حقتولنې حُنې پرته هر نظام کې
بنیادم له خپله ځایه راغورځي بـږي

## د ککوړي د سرې ټوکرې د پاره

آدم زوی بل آدم وته ټيټيږي
يو شته من دی چې ټولنه کې ټولواک دی
نېستمنان خو په جغ شوي تل اوسيږي
د ناچارو کته باندې کتوي باندې
د چارمنو کتوي به بې ګټې پخيږي
د بې وسو د خولو په ترمو څاڅکو
د وسدارو ماڼی رنګ، ځمکې ډکيږي
د رناوې چې په موړۍ[1] يا په دوترو وي
لولنګو به په کنجکه خود ارزيږي
بې اسرې آسمان ته غرېدې غمرېدې اری
په ظالم چې به لا کله نسکوريږي
په زوخړه به يې غورونه شي ټول ويلې
په لړمون د ځمکې داسې اورختيږي

بې ټولنې ژوندون څه دی؟ شنه پسرلی دی
بې ټولنې بنيادم څه دی؟ نه شی دی
ټولنيزه ژوند سمسور د سرې جس کا
د ټولنې مدعا واړه سرې دی

---

۱- موړی = پانګه،

په تولنه رېنګي لوی قهرمان شي
بې تولنې قهرمان هم لیشتکي دی

چې تولنه دې اَدام په کلیمه وي
هله وایه چې خپلواک د آدم زی دی.

د تولنې سره مل ، دځان ښارن شه
چې ستا «زه یم » دښوندون ځانګړی شی دی

چې تولنه یې باره[1] دارتیا[2] نا خلي
هر بنجی خپل چاروکی هندوکي دی

کلیمه وار نرې یوه کورمه کړې
د یوې کورمې خوتل یوانغری دی

○

دازغوله ویخه ستر ګې را تو کیږي
د پسرلو لاره دغنو په چا په وي

د نمرود د خرخشو به ښه وی پېژني
سرې لنبې د خلیلانو خوراکه وي

سامری د زړونو پټ غلونه را نیسي
د مزېو پیت پرک هم په تپچه وي

شرق ناتار یې د وختونو نیمه خوا کړي
انقلاب چې یې په نیمه کلیمه وي

---

۱- باره = پېښتنه ، ۲- ارتیا = ضرورت- نیګرتیا - کرمه .

ارکجه چې نظامونه د نړۍ دي
ولسونه خونخوړ يې ارکجه وي

○

د ښمنۍ تخم کرونکي    عقوبت وي برخه شنده
خېږ يې څه کړي چې نه مومي    څوک يې وېږي له درست ونده

○

چې د مال او شتمنو دواړه زکات شي
سرلوړي به دې هله په ولسات شي
چې نېستي د نېستمنانو نه غوښېږي
اوردې پوړې په داسې خېرخېرات شي
ولسونه په مېړونو شتمندي اوسي
چې مېړونه په نېش لکي، خود مېرات شي
شريعت چې په انډول (۱) د خپل وخت نه وي
عقيدې واړه ذکتېي لات منات شي
د شتمندون پانګې په خپلي سکې (۲) کېږي
هغه ورک دی چې پېرېږي په مېرات (۳) شي
چې يې منده نه له دين نه له سادينه
د شتمندون خواږه په داسې ولس قسات شي

---

۱- انډول = توله، ۲- سکه = سرمايه - راس المال، ۳- ميرات = Grace - لږه وربخښنه .

د هغې اوښې ملامـا ته عقوبت شي
چې يې بار له خپله توانه ځنې زيات شي

○

هرغور ځنګ[1] ته دورنګان ورشوځي
ځان دي پوهه په دې ټکې هرسالار کړي

تا بيا ګرانه د بهر د غليم نه ده
کور غليمې په اتبار اتبار ګوره ارکړي

د دورنګو[2] وي نظر په خپلو ګټو
کله غاړه کې تسپې کله زنار کړي

چې د ننګ خبره راشي کور غاړي شي
تش ميدان کې به د دوزو تود بازار کړي

تا ته لاپې دياري وهي سوګند خوري
شا په شا دي له دښمن سره روزګار کړي

دوه مخيزه ترون په نه ترون[3] ليکه دی
يو مخيزه شاه ځلمي يو مخيز کار کړي

---

۱- غورځنګ = تحريک - خوځند

۲- دورنګ = دوپرک - دوه ژبې - منافق

۳- ليکه = حساب

هم خپل جسد سړی توب خاورې ایرې کړی
د دوړنګ عمر په ځان باندې ستم دی

ښښتن ټول د قدرونو پېدا کړي
یو سړی د بل سړی نه په څه کم دی

تړ[1] پیمار د فرعونانو د دستوروي
که ولس يې تل زغمي، نو ولس کرم دی

ستور تلینوته چي لاس شي رسولی
ولې سود يې په کلونو د شرشم دی

با توران چي د کونترو ځای لره راشي
ای ویږلو! نر هره چاودی د غه غم دی

دې ټولنو او دودونو لیشتکی کړ
کمنی لوی له کائناته بنیادم دی

په لویدیځ کې لېرز له عقله ږنايي ده
په ختیځ کې د هر لوري نه تورتم دی

نمړیتار[2] چي د فرعون وي زامن نه دي
زامن هغه، چي فرعون يې ورکول کړي

---

۱- تړپیمار: وهل ترل، ۲- نمړیتار: د بل دودي ته ناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې يې جسه وي جابروته تېتېږي
چې جسمنه وي جابر را بغـول کړي
چې د بل په سترګو وينې تول راڼه دي
روغ هغه چې يې پخپله ځيرول کړي
نه سړي شو چې سري يې خدايان کړل
چې سړي وي نو بتان نسکورول کړي
چې بلزونه کړي تنزري، بازوان نه دي
بازوان هغه چې تنزري بازول کړي
ننګيالي دښمن نيمګړي هم پوره کړي
او ولس په خدائي رنګ کې رنګول کړي
په ذروکې يې چې ستوري زرغون نکړل
هغې خوښې لور په لوټه تېرول کړي

ډکې ډکې جولۍ خلق ځي له درمن
برکت دې شه ننګياله په رشــې
ښا پېرک په توروځمخو سر ښـاسي
سوړپيا شه ختيځ رانولي پلوشې
د بازونو با توړانو يدې قات کې
ترپوسانو ځنې غـوړه دی باشې

د دروغو، د ناحقو منزل لنډ دی

ترڅو پښې راټینګوي به يې مشمشې[1]
لا لیدلی يې بورسترګی کلیم[4] نه دی
څکه کړځي فرعونان لا په نشې
دحق ډوګه له خپل ځای رټولی نشي
دباطل دا شدتونه خرخشې[2]
اروپیچ چې له نقشې دکائنات وي
په بل مخ شوی دنړۍ هغه نقشې

○

چې د نمړ ستړګه وبریښي
غرونه واوري کاندي ویلي
حق بربال پرون هم نن دی
که يې نښته څوک په سیلي[3]
داوبو د مخ کیل نه دی
کلیمه د کاڼي کیلي[4]
د نښتر د سیالی نه شوي
که په خښرشوي ډېري ډیلي[5]

---

۱- مشمشه = پروپاګنده = ډنډوره . ۲- خرخشې = جنګونه، ۳- سیلي = ملاتړ
٤- کیلي = کرښې، ٥- ډیله = یو وابنه .

بدخوک بدونه نه وايي

خلقې شوې داسې ايلې

چې رنځور باوړې (۱) وکړي

پوچې شي د دارو هيلې

له پولاد اصيلې زيږي

خړې نه زيږي اصيلې

چې نښتر له برمه درومي

نه ټينګيږي په يونيلې

لکه کس کړي په ځان غاړې

هسې قام په ځان ځاني (۲) کړي

د هرچا تبر له تن دی

خپلې سپينې خپله پرې کړي

هرڅوک قبر ځان له کني

هرڅوک خپلې جنازې کړي

غليان له کوره زيږي

پلمه بازخه له پلمې کړي

هرڅوک ځان ته تبې (۳) سرې کړي

بيايې ځان باندې سرې کړي

---

۱- باويړي = د ناروغۍ بيا تانديدل، ۲- کاني = شندې غاړې، ۳- تبې = د کمتې تبخې

خپل عمل بری ببښــن دی
خپل عمل په غاړه پـــړی کړي
ښستن ظلم تیــری نه کړي
هرڅوک خپله د یوی مړی کړي
د فرعون دکور له درنده[1]
کلیان جګي نــړي کړي

په مسور[2] و باتورنه ړنګوي نوکې
د تنړ و تو دي ویني یې مسوروي
د ننګیال کرلي خټړي ، سمسوړیږي
میړی وازاو سپنخړی که سوسر[3] وي
د دوران تابیاد هغه چا دوس ده
په غښتنو ژوندون چې یې نظروي
د تاریخ توپل ترزری پرکوته ښیي
چې مدام د ننګیالو موتي لښکروي
منګوان به خوحق د لاری تښتي
د هريو لاره آخر یدی خیبروي

---

۱- درنده = غولی- جوس .

۲- مسور = د نوکونو رنګ - نیل پالش ، ۳- سرسر = د وکیا کېد و نکی اور .

علیمه لوی چیناگر دی          تل ترتله په غور څنګ
سوسروته پرې سپرلین دي          سیمه سیمه پرې ګلرنګ

دکشر مشرفرق خوخود وي
څښتن لوړی دی او رسپی تـه یې
دیونه کچ یې په نور وبــــره
هغه قجیره، څواکمن مبره یې
چې دی خویونه د هغه خپل کــړل
هله په ولې یې، هله به شته یې
څکه دې غوره خپل سراخــلي
دهغه مټ یې، دهغه کره یې
دهغه مل یې، په زړه بســل یې
له سین زور غوره بربوکـنی نه یې
په سپکوکانو چې ځان دې تولې
دا له خپل ځایه لا اخبر نه یې

---

ا۔ غوره، تورتهمت (... فلم تقتلوهم ولکن الله قتلهم ...)

په درست عمر کې بوڼه[1] دې نه ده کړې

دا دې بازدې وهنده او دا میشکار یې

یو قدم له خپله ځایه مخکې نه شوې

ډکانې غوڅکې یې ټول عمر په لار یې

نه دې برید، نه دې ولجه، نه دې مښود څه

هسې لوټ[2] یې او ځمکې په مخ بار یې

څه که ځان په سرو مهرانو باندې نیسې

په نظر د صرافانو کُټ بنګار یې

حج، موځونه، تلاوت کړې روژې نیسې

ولې او س هم زناري یې، بُت ګزار یې

لږ ه پښه ونیسه فکر له ځان وکړه

چې داولې له همه قامونو خوار یې

چې همدغه مذهبونه دې امساوې

لکه ړوند له ګړنګونو به غوزار یې

دغلیمانو په مسودونـــن

چې زنارونه ؤ، هغه تسپې دې

---

۱- بوڼه = لومړی ښکار کول، ۲- لوټ = بې هډوکو ځاندره.

کتاب کړلي ، باطله کړي

دکتاب مینځ نن هغه کیسي دي

انځور هم هغه خدائی انځور دی

ولې پرې شوې پوچ کښېدې دي

چې خلیلانو راړنګولې

دامتیانو هغه کعبې دي

دا چې یې نړولې دکلیمو خیژي

چې ویخ یې کورې بې کلیمې دي

دمذهب شروتې لیندې پهلاس دي

ځکه یې ویشتې تل مؤمنې دي

چې حق ننګي وه ځلمی وغشي

چې بې ننګي شوه ځلمي دُړمې دي

دباتورو دور ترل ده پېر

لړزه ناسته یې په ځاله

دښروند بړد[1] کې ، راځي پیتي[2]

دنصیب لیک ته اتاله

چې نیستي په هستي مارل[3] یا

څه به خلاص شي له زواله

---

۱- بړد = سیالي ، ۲- پیتي = وروستي ، ۳- مارل = حسابول .

چې یې ځکه کلیمه ده
ولې نه دې ټول راټاله؟
بازاري دې خپله ستايي
په دېوال له تش پېغاله!!
په نري باران پسخه شي
اوم غړن لوښي کلاله!
د بل ګټې ته په طمع !
هیڅوک نه ګټي یې تاله

خواږه بر سېره کا، تراخه به ورک شي
چاپېر ښولنه که هر څو ترخه ده
تېرې به وي تر هغې ځلې ځلې
چې دې دېوټ باندې ډېوه څومره ده
حجره، جمات کې یې رېښتیا وویل
له یو مخیزنه ولسیا خپه ده
د رابیا کې بورجل ته ځان رسوه
که لار د سر وغنو چاپه چاپه ده
د صبا لاره څوک د ب کولی نه شي
منمه دا وخت تکه توره شپه ده

پہ سپوږمۍ کوزشه مېړنی وویل
دا د برتګ لاري لومړۍ کرړه ده

○

ښه عمل «زه یم» ږغون کړي
بد عمل د «زه یم» رنګ شي
چې په «زه یم» شهسړی[1] شي
دوه جهانه یې قلنګ شي
شي تالا ترغه په «زه یم»
چې دوه مخی شي دورنګ شي
بیا د «زه یم» ژوندانه دی
چې کالبوت د خاورو رنګ شي
چې ممسوری «زه یم» نه کړ
د وجود سره چنګ ونګ شي
مرګ یې هیڅ کولی نه شي
چې د خدای په رنګ کې رنګ شي
په خپل «زه یم» باندې ننګ دی
په ښښتن که د چا ننګ شي

---

(۱) شهسړی = سترسړی - لوی سړی .

کښېنۍ په ډېرې ستړې بدن

کښېنيده پرې ستا عمل دی
که دې "زړه یم" سرانجور دی
شو سره هسکه دلې هورې
چې په "زړه یم" کې سمسور دی
چې ځوانکه[1] يې شي تورکي
تش لمنی، هم مختور دی
ای دخپتې غم خوړکو!
خپته هم، خوشروند څه نوردی
دې آدم، آدم په زړه یم
بې له زړه یم دآخور دی
چې دتش نس او دنوس شي
سرې ذات پورې پيغور دی

دمېږونو تېرو تورو چورنګ يو رل
دا تې په امبالې چې غورېږدل
دهغو څاړو بنه الوزي
سرچپه چې چوه باز نه نيغيدل

۱- ځوانکه: د زړې یا تخم هغه شونی تیا چې زرغونه ترې کېږي.

د هغو په طبلو خوړونه رغبستي
چې له حق ځني ناحق ته اوړېدل

چې خوړلي سوګندونه یې د وفا وو
دار یې یښي په اوږو وګرځېدل

د ړندو کلي کې کراني خرمهرې وې
او لالونه په سوپیا کو خرڅېدل

د کلیم په برخه دا رنګې مړژواک وُ
چې له واکه بې واکۍ ته پسخېدل

د مېړونو پولادي مټې سنګر وې
تور بربنونه یې شملې د قام د سر وې

په پوړونو د جمات خوبونه کړي
یرغلونه د باطل چې یې په سر وې

د مېړونو نغرې کوندرې شرېکې وې
شیخ ملي دوتري یې واړه یو د وتر وې

مخور دړاڼي هغه تومن دی
چې پرانستي یې په درستي نړۍ وروې

د ږمز چینه به یې هم چرې تاند نه کړي
چې پخپله روستي ځبلي د نښتر وي

په نیزو کې یې دوړانګو ستورې ولاړ شي
ننګیالی د نمر خاته ختلی نمر وي

که د ټینګان لري هر څو ستړي وزرې
لوېې ماري د باتورو په ځیګر وي

چې کاسیر وي په پړونې کې بربنډ وي
حیا خپله حیاناکو له څادر وي

پردې بد شي د کتوي خپلې تنکولی(1)
بدې کړونې خپلو بدو له اشر وي

د میړونو د څنګوټ هم دغه دود دی
یاد هیڅ پټول مارې یا پټول نهر وي

○

چې یوه یې مفکوره وي
اوله دې نه په ادب وي
په سر کې کنجی(2) لاس وي
په توده کې یک(3) جلب وي

○

نه نوره د کائنات ده — نه د شرونډ دستور او لاره
چې یوخو دې په وله(4) وي — او د نورو برخه خواره

---

۱- تنکولی = پخکړي - لمده بل، ۲- کنجی لاس = خپلو کې کلک لاسونه ورکړي.
۳- یک جلب = چې آسونه یې څنګ تر څنګ روان وي، ٤- په وله = مارې - هوسا.

د میړونو لار(۱) لومړۍ تورۍ وهل دي
چې نړۍ په ولکه واخلي نو ویش کړ شي
د میړه نیکه دوتر چې شته کول غواړي
هغې مټې بډې راکاږي او نر شي
د قام مشر هم د قام په جامه بو(۲)یه
چې ولس یې د شړې وي، شړیور شي
ځوانه که ببر شوی اباسین شي
شاه ځلمي ورته پښې بنجي کړي تورغر شي
چې په ننګ د لا اله وي غزا هغه
نور خو هسې خلقې خوشې ککر شي
د سینا په دونهه پنډ هتول سربري
دیوې دونمې ترمخه یوتبر شي
برغو(۳) پوک وهه، ډنګ ورکا نغارې له
دا خواره واره بنجخې(۴) که لښکر شي

---

۱- لار = قانون، ۲- بویه = پکار دی، ۳- برغو = سنکر- تورم،
۴- بنجخې = درې خچې (په اصل کې دوني بوټي سرغوټه وائی.

په توربرېښ چې په میدان کې جنګیالي وي
سرښېرې کې یې وتلي ننګیالي وي

په خپل کور کلي کې د پرخلق نامستووي
حقملان په ولسات کې نومیالي وي

چې کلیم ورته بیرغ د یرغل ورکړي
که په هره غاړه مخ کړي، بریالي وي

کلیمه پښتوله، په لاس کې بمبل توره
د میړونو خو هم دغه دوه کالي وي

که لوی شی دی هغه منډ دابدالي دی
په دا څه که دچا توره ابدالي وي

په سومنات دغرابین په خوله بانګ وایي
چې په ختټه کې یې ګډه بلالي وي

بازداري پورې پېغور شولې بازداره
باتورزي دې قوشخانه کې تپوسان شول

په ټولنه کې رنا پوښتې راڼغله
که وکړي تول د سیلمې نه حاجیان شول

فرعوني او هاماني په زلزل کوره
پدې شخړوکې یو څوکه کلیمان شول

چې دیوې یې ستا پلرینې واخستلې
د مېړې له ځایه پورته شو آتیان شول

د همت سپاره دې وبوګنېدل هسې
خر سپاره درته له پامه وزبکان شول

زمریالی له خپلې ماري پرېشان شو
په داغه شي په ډنګ ډنګ که ناکسان شول

ای تورانکی اوردزړه ونـــولـــه
ستا یوه کوکه ورکېدلی نه شي

تېره شلونه دا زغـــو که وي تــل
د ستړکو لاره څوک نیولی نه شي

د ګیدړانو په اور روکې چـــړې
د زمري غورمب خطا کېـــدلی نه شي

چې شي لاس بری د فطرت په لارو
په هغو چړک را پرېوتلی نه شي

د نن په ګټه چـــې یـــې سود کړېدی
د صبایې میدان ګټلی نه شـــــي

چې له دې ځمکې پورته شوی نه دی
خبر د بل نړۍ راورلی نه شي
په شاه میرو بې انګازه شو یده
که یې بنجخۍ نس لیدلی نه شي

○

چې د لېچو نړور پیداکړي تور دارشي
چې چنګېز یې وتري نو هغه لارشي
چې وسلو منځو سره کلیمه نه وي
که د غو پښان تو من وي تار پتار شي
له دستور د کا ئنا ته ځنګ وځي
د کندوانبار شته من قامونه خوار شي
بې وسې په دنیا لوی یه کوناهي ده
چې د ښکار کولو نه وي، خپله ښکار شي
آدمزاد لوی میراني شي کولی
چې د خیټې د غمونو نه وزګار شي
خواري بویه خو په حقې لارې بریه
خوږ کله په خولو وینو چنار شي
ته پخپل بخرکې ولې ناویسا یې
هم بخرکې چې خوندي کړې سوانګار شي

شنه راستي د سروي هیچري خیَم نه خوري
که پرې تیر د خزانو نو ترې بیمار شي

○

د باطل د ویرې ټکي خو کلیمه ده

له نیمګړو مفکورو هیڅ نه ویرېږي
د پرقامونه به د ځمکې له مخ ورک وو
خود ټکه سره تیغ نه وبزی کیږي
زبږي[1] ټول سمسور به د ښوخت ترمنځ کړي
تلوار ګړندو! دیګ پسوار باندې تودېږي
پلویانو د روسو اولینن! واورئ
دا نړۍ ستاسو په وړاندې به نوړېږي
بنسټونه د ړوندون په یوه حال وي
ادا بنې مکر له وخت سره نوړېږي
ټول بدلون یا نه بدلون ړوندانه ندی
خوار هغه دی چې یو لور ته ځغلنګ نیږي

○

په شونکار د اباسین چې شوی پورته
ولې چپ یې د مانګی سندره نه کړه

---

۱- زبږی = زږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا راکړه د خزان نور کوئ تېر شول
خود سروې شنه جامه یې زړه نه کړه

چې رښتیا وېل د کومو خولو تور وه
بر په دار یې له رښتیا و بله نه کړه

راغلل ډېر انقلابونه دلې هورې
ولې درسته یو سالار کلیمه نه کړه

مېړنې په مېړني پسې لوګی شه
خو باطل سره تو ده یې سره نه کړه

تېرو تورو، تهمتونو او خونړې هم
هېڅ کچه د ښتیا لو عقیده نه کړه

○

چې د سرو وینو پیاشې پکې څلېږي
شاه څلمي هم په هغو لاړو چلېږي

سر سجدې د جماتونو په پوړونو
د مېړه په یوه هڅه نه ارزېږي

ککرې د کلیمانو وې تل هسکې
شکرورې ککرې ورته ټیټېږي

حق ملاتړ له زماني وې پېړې ځکې
خلق نور د زماني پر دود تېرېږي

کلیمه د کائنات سره جنګیږي

غل د رغل به له جنګ غالي پښا کیږي

نه دې خپله غاړه خلاصه په مړینه کا

دې نه مه ګوره چې کله صبا کیږي

د میړو له متو پاڅه    د ناحق جهان نسکور کا

په چینجنو وستو ګړګو    بود هیره پورې اور کا

دا خدایان د ټینګي نه دي    ولې نه سترګې د بور[1] کا

د قامونو نړۍ ځمکه    د آدم تالیزه کور کا

دا د غوښو تش لوتونه    په حلقا د جسو نور کا

د ښستن په کنبد وکې

خپلې چارې دې انځور کا

په تیرو تورو برغند ځي

نه کیالي ځي په خپل منډه ځي

د میړه د خولیوونم

د سپرلو له ګرده وند ځي

---

۱. بور = نمری.

له ښښتنه چې هم غم وي
هغه کار هم کله شنه ځي؟
هغه پېښې پرې کړې بویه
چې د خلقو په مرکه ځي
د تسپو خاوند ته خیر دی
که ځي دار له، لونه ځي
وسپینږي ختې[1] را وړه
د کلپانو آخر کنده ځي
چې په ځانګه کې پخه شي
هغه ځکې له بې شنه ځي

○

چې له اوره لاشه موږي
ځه یې ویره بیا له اوره
زړې مات وړوکې کوړ کړې
شي همغاړې له شهکوره
په چرسو[2] به تر څو سود کړې
کائنات ځنې پلن پسوره
د زړې ځای پکې ورک شي
چې ژوندون کړي جامه نوره

---

۱- خت: کمیس- یمنۍ، ۲- چرسو: تنګ ځای

سرېخېره تل پائېږي
خیر دي نشته سرېخوره!
د فطرت په هنداره کې
له ښنتنه ځان ته ګوره

○

چې ځان من دی هغه کس دی
چې ناځانه دی ناکس دی
په سیلاب غرونه لړېږي
څه ارزښت دلې د خس دی
یو په لس، هم یو په سل دی
پیاوړی چې په جس دی
د هوس د غزالې[1] نه
دزمري ورتېره وس دی
په زړګونو دلو سرد[2] له
یو بڅری داور بس دی
ګرندو پرې نږېره ګل کړه
د متهٔ کاروان پس دی

---

۱- غزاله: د هوسۍ بچی
۲- سرد: یوواښه

زرداران خوري مدام غوښې
د خپل قام لکه ګرګس
په درست قام يې لګولې
له پېرواسې ګرګس
دوی ښمين له سره واخلي
قام له پاتې شي يکرس
روږي ډب کاندي ولس ته
بيا کوي مانځه اودس
د بې وس وندې کوونکو!
وي ترڅو به ستاسو وس
د «لا تركضوا» وخت لنډ دی
لا کوئ هوا هوس

چې څټکوي ظالمان شي
سينه يخه د جهان شي
چې خدايان پرمخې پرېوځي
را اوچت بنيادمان شي

چې ځانګړې دوترو ورک شي
په توبه لو لنګران شي
کليمه هله په پښتو شي
د باطل به بوږجل چې وران شي
زورداري کې ځانا ځان وي
کليمه کې تول يو ځان شي

پدې شخړو پرکښو کې
هم هغه ځلمی انځور دی
چې د تول نوغي دخيره
همه چارو کې حقطور دی

پور په جسو شه بيا ګوره
چې يوتن ځنګه لښکر شي
د ميړه له چارو برېښي
په تندی اخستی غر شي
هر دمځو برخېزتيا ده
چې خرډک پاڅي نښتر شي
له تنې زوخ چې اوچت شي
لکه نمر پېرې تل سحر شي

چې ژوندی وي د ښکار ځله
تو دې وینې خود ښهپر شي
زمرین ګوا ښنه شاه ځلمو ته
سلامي سنګر سنګر شي

ځوانان څه کړې دورې دي
ځکه یې غښې بې پلې دي
چې له بازه چټو ته ناست دي
پیغالونه یې ولجې دي
ولسات لکه تنزري
د ښکاریانو په ښچې دي
د بل مخه یې ښتوله مخه
پرکښې نه دي ژړمې دي
د نمرود وسیلې وا یې
له آزرې عقیدې دي
چې نومړې په سرو دي
د سرو تښې پیښې دي
د باتور نخښې یې نښته
لا ملخې تولې جوښې دي

د یو شرق زغملو نه دي
دا پڼې دومره اومې دي
پکې زه یم بوده نه شه
وجود تشې تنستې دي

○

د آدم ځانګړی "زه یم" لکه حق صمد احد دی
تن زان زه دی ولې زه یم لم یلد ولم یولد دی

○

د هر زړي په درون کې د خپل ستر وجود انځوروي
تېغ، تنه، ځانګې، کلونه يې هم کامونه په خپل لوروي

○

د یکرنګه برید مېږونه نیسي نور نور سنګرونه
د فطرت خوا بزه لړنه دي که ساره نه شي مستونه
لمن څه چې څادر خور کا د سپرلي دېر دي کلونه
ته لا میشت په سر پراوې ژوند دې شخړې پراوونه
خوني خونې ستور تیلیږي تازه نه کړه يو خونه
که تنها کوته کښېني شي کوته به مزلونه
قدم تېز کړه، چې غږېږي ستوره تلو کې جرسونه
يوه ورځ به درته راشي
ستور کږونه بېلکونه

چې په یو هسته پیوست شي
ذرې غونډې شي تورغر شي
وړانګه ګډه شي په وړانګې
ړادبره نوی نمر شي
چې حجرې غښتلي پاڅي
نود هِکځ ځاندروسحر شي
ننګ له ننګه چې کوشیر شي
هم لښکر شي، هم سنګر شي
چې سپېڅلي سره صف تړ شي
هله الله اکبر شي
هڅې هڅې چې په ګواښ شي
نوځوځې نوی په سر شي
شهسواران چې یک جلب شي
د بړدونو[1] لوی اختر شي
تور په تور باندې شي پورې
سترګې سترګې یو نظر شي
لارې لارې هر آسمان شي
چې همت همت وزر شي

---

[1] بړدونه = ولجې، مال، غنیمت.

د ژوند پېټي شي مخ لسوځي
چې شوګير تېره نشتر شي
چې ګټل بخښل توره شي
بيا آدم جنت ته ور شي
چې د عقل سپاره وينښ شي
پوچ خدايان هله ړبر شي

○

د وجود توره زيږون دی    او د «زه يم» نوښتون دی
نوښتون کړه د ژوند تره    نوښت «زه يم» له پاځون دی

○

يو غورځې دی اباسين دی    غرونه غرونه دی يو نيز دی
يوه هڅه دی سپرلی ده    يو يرغل دی ستور تليز دی
له تش شور لاس اوچت شوی    اوس د هر غوره غوريز دی
ستا د توري له تکوره    کائنات ټول سندريز دی
غره راغه دې له همته    ګل لمني ګل مخيز دی
لا د ژوند غرمه ده لري
دا خو اوس لا سوړکهيز دی

که د ښروند نقشونه دېر دي

ته د واړه ښروندانځوري

نور ښروندون دي همه پلي

همدي ته يې چې شهسوري

واړه ستوکي يو يو رنګ دي

ته له رنګه سپرلي طوري

د هوسۍ په سترګه د نښه

هم باتور کسي د بوري

د ذرې په ځانده نمري

په قطره سمندر سپوري

ته په ځمکه کې آسمان يې

په سرو او بوکي اوري

د لشي سره پياخه[1] يې

لا ښه توره، همتکوري

چې راغونده شي موتي خاوري

کائنات شي چې ورخوري

د حجرو په اړونګه کې

له ظاهر ليده څه نوري

---

۱- پياخه: د شاتو ډک ګبين

نور کورونه په تا تنګ دي
ته همسیال د خدای د کور یې

○

مفکورې به دې ړې پوچ شي
د دې یو کلیمې وړاندې
چې یې ښن سندرې وایي
په صبا یې وایي ساندې

○

په ټولنو کې زرغونه — دا دې یوې او هښالونه
د سر هنګو شاه ځلمو دی — د خولو وینو رنګونه
د شاه مېتو الامې یې — اسمانکه سنګرونه
ګنبدې یې د ګړاو دي — ویړ سپېرلي شالېزارونه
د ناغوسترکو شوګیر یې — شه علمونه، حکمتونه
په نهره د جنګرېزي یې — خوړې وګړې شوالونه
د عقلي مبنود زشه یې — هڅوبونه، تهذیبونه

○

د ځلي د نرګس غښن دی — پسرلي یې تا ننګه راتلی شي
په ارکه چاپېریال هم — انقلاب زرغونېدی شي
عکسمته پرګنو نه — مله د لارې تولیدی شي

میړه مل که د ښبنستن دی    له ښبنتن مخکې کېدی شي
د تیروازغوله تخرګه    نوي ښه وتدرا ستر کېدی شي
د فرعون له خپله درنده
کلیمان را پاڅېدی شي

○

آدمزاد لا لېشتینګ دی    لا د ډېر لرې له خپل ډګ دی
که په ټومنه باتوران دي    لا په چاروکې لولک دي
فلسفیان یې هلک فکره    لا، له زړه یې بې درک دي
په دې ویر لوی کائنات کې    په یو ځمکه، نمرتاوک دي
که خپلواکه د ډېر ځان بولي    چې یې ګوري لا بل وک دي
د شپانه ښاري لا نه زده    شرمځان د خپل کنډک دي
لا یې عقل ډېر کچه دی    لا په ډېر جهلونو کلک دي
د سرښورو نغوتکو    په لاسونو کې لینزک دي
زبینا کیان یې په جوش کې
هغه شان په امبولک دي

○

لا په سر یې فرعونان شته    لا قارون شته، لا هامان شته
آدمزاد چې ریږکی دي    لا د وچې ډېر خدایان شته
د ولاړې ځکه نه شول    چې پرې پټ شلمان شته

لا په دار مسیحیا خبږي لا لندې پاري مذهبیان شته
خلیلان شړوني کنږي د آذر لا لښکریان شته
هر نو ښت نه کفر وایي لا مخ نختني زناریان شته
قلمونه په اور سوځي لا د علم غلیان شته
آدمتیاله لا یو خوب دی لا د قام، خاورې بتان شته

سره توب ته لوی منزل دی
لا د دوو پښو حیوان شته

وخت به اخلي، ادمږي چې
له خپل ځانه اشنا کیږي
د خښتن او د خپل زړه یم
په اراییکو چې رسیږي
وخت به اخلي دا حیوان چې
د سري په پښو پاڅیږي
وخت به اخلي پوچ خدایان چې
د بربږي، نسکوریږي
او د جهل کتابونه
د خنداتوکي جوړیږي
وخت به اخلي کائنات چې
ستر آدم ته بیاتیتیږي

د آدم په پاڅېدو کې
لا د ډېرو پېړو ځند دی
د دې دوو پښو څاروي ته
لا په ځټې کې لوی کولند دی

ته په بتول کائنات بریې — خوله ځانه بې خبرېې
ملغلره يې په زړه يمه — که سپېړه په تن بهرېې
په يو ځاځکي کې توپان يې — په ذرې دننه غرېې
بر سېړنه که لاک سنګارې — چې په جسم شي نو سره زرېې
ستا توبري توره دې "زه يمه" — هم په "زه يمه" ولجه ګرېې
که ورستي راغلی کاروان کې — خو د واړه کاروان سرېې
مينځ هستۍ ته دې پام نه دی — د بهر هستۍ په چړېې
لا نيمچه آدم يې ځکه — لا د نيم ځان روزنګرېې

انځاره کې حق ته تليه!
د ناحقو انځورګرېې

مفکورو پوچو او خوشو
کوچنی کړی آدم زړی دي
که يې ستر کتاب په لاس شي
د خښتن د برش سرې دی

○

الکتاب په ادم نړونــــی
لا نښودن آخرنی دی
که هر څو مره لرغونی دی
خو هر نن کې صبانی دی

◯

حق لا اوس هــم نا ویلی
که ویلی دنــدلی دی
فرعــونې دی په خمار کې
نازیږیدی کلیمی دی
چرګ پرپوتی سیلاب زوځې
نوح پکوی بې بېړی دی
دکعبې سپایان جوت نه دی
آتیوان بیا په غدی دی
یو مذهب دکمتې نه دی
دالیندی واړه بې ژی دی
خلق خبنتې دبتــکور دی
ځکه شخې آذری دی
ناپوهې دهر وګــړی
په وګړی په غدی دی

مفکورې پوچې نيمګړې

بسکيلکونه، تيزندی دی

چې خوندي دي کړوروړه شه

چې دې وبازه خوندي شه

لاس په ظلم پورته شوی

بېرته شرق په خپل تندي شه

د باتورو جس يې بايلل

چې د چتو وهندي شه

پولې پاڅي آدم وخوري

چې د پولو ځای بندي شه

د خليل سرې ته وتي

د بتانو وهندي شه

چا تونګ د اسمان وخور

څوک ځغلا په ګرېندي شه

شروندانه نهول يوځانيز دی

که هرڅومره ګڼ رنګين دی

PROPERTY OF ACKU 7550

مخ د تټولو په سـیـو مخـه
که هر تټوکی بل مخـیز دی

په یو بمه په زیر حبار وځـي
دارباب که زر تاریـز دی

لاړي لاړي یوشهـلاړه
تهـل تلی، یوشهتلیز دی

ستور تلیز ستور تلین کورکور
کائنات یوشهکوریز دی

پدې دومره هِک ځاندره کې
ځمکه ناشي غوندې ځیز دی

خوځمکه زی په شوني تیاو
دهمه شروند دتوزیـز دی

○

په تنزومټ کیراوکړه
شیش بیا واخله ویږجهان ته

چې ذره په ولکه واخـلي
هټی رانبکه بیا شلمان ته

ستاتقدیر خه ځمکه نه ده
لاړي وبـاسه آسمان ته

له بېلي درياب ته واوړه
له تنګي نه پلن دامان ته
غوږ کمنه په لينده کړه
بيا ورکښېږده ښخ کمان ته
له سيږغودي ډېرښوند وکړه
لاس کړه اوږد نمر ړوبنان ته
پوهه بوځه ځيرکتيا له
ځيرکي راښکه ايمان ته
په نرۍ ورخوړ پېدو کې
ګرځېدلی اوسه ځان ته

PROPERTY OF ARIC
Established
1979

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**